# زیری

علمي- څېړنیزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جریده

د تأسیس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

سه شنبه (۵-٦مه) ګڼه، دربیمه دوره، پرله‌پسې (۳۹۷- ۳۹۸مه) ګڼه، د ۱۴۰۱ل.کال د غبرګولي (جوزا ) میاشتې ۳۱مه، د ۱۴۴۳هـ.ق. کال د ذي القعدې د میاشتې ۲۱مه او د ۲۰۲۲ز.کال د جون ۲۱مه


دا هنر نه دی چې خاورې څوک سره زر کا
چې زر خـــاورې کا رحـــمانه هـنر دا دی

-------------------------

د رحمان بابا دیوان: پښتو ټولنه، ۱۳۵٦ل کال، ۱۸۵مخ، ۲۴۹شمېره


پوهنوال دکتور اجمل ښکلی


## ځان ګوري او بهر ګوري

څه وخت مخکې په یوه مجلس کې ملګري راټول وو. یوه ملګري بې درېغه نیوکې کولې، په دې کې غیبت هم و، پر نورو خندنی هم وې؛ خو لنډه دا چې مجلس د خنداوو رنګ واخیست. هغه وخت کې فکر راولوېد، چې ځینې خلک څومره ډاډه وي، چې دا د دوی نیوکې څومره پر ځای دي، کله هم دا فکر نه ورلوېږي، چې ممکن زما دلایل کمزوري وي، برداشت مې سم نه وي.

دا ډول خلکو چې د بهر نړۍ په اړه ورته خپل اخیستی برداشت دقیق برېښي او فکر کوي، چې خبره په ده کې نه، بهر نړۍ کې ده، ارواپوهنه بهرګوري(Extrovert) وايي. د بهرګورو په اړه دا زما برداشت دی او فکر کوم، چې دا له هغه مفهوم سره کټمټ یو شی نه دی، چې یونګ په لومړي ځل د دې نومونې لپاره کارولی و.

بهرګوري په بهر نړۍ کې داسې ورک وي، چې ځان ترې هېر وي. د ځان د هېرولو مانا دا نه ده، چې ګڼې خپل لباس یا نورو اړتیاوو ته یې پام نه وي، بلکې ډېر کله یې خپلو خبرو او خپل فکر ته پام نه وي. ارواپوهانو د دې ډلې خلکو نورې ځانګړنې دا په ګوته کړې، چې شهرت غواړي وي، مېلې او غونډې یې خوښېږي، ځان مطرح کول او د ځان صفت خوند ورکوي او فعال وي، د عمل او مبارزې مېړني وي.

د ځان مطرح کول او شهرت طلبي بده خبره نه ده؛ خو چې په خپل حد کې وي. البته زما خبره یې په یوه بل اړخ ده او هغه دا چې دا ډول خلک له ځانه بې نیازه وي، په ځان کې ورته "خو" نه ښکاري او فکر کوي، چې خرابي په بهر نړۍ کې ده او باید بهر سمه شي، ځکه نو له نیوکې خوند اخلي. هغه د صاحب که د چا د شعر ژباړه د همدې خلکو په اړه ده:

> ټول عمر مو همدغه غلطي وکړه صاحبه
> چې ګرد مو په څېره و، موږ هېنداره پاکوله

د شخصیتونو دا ځانګړنې که له فردي بېلګو خپلو سیاسي شننونکو ته وباسو، موږ ګڼې له ټولنیز پلوه د بهرګورې منفي صفتونه نه دي ورخپل کړي؟ تل پر نورو نیوکه کوو او د خپلو نیوکو په مطمین هم یو. کله مو فکر کړی، چې زما لید او زما اخیسته ښايي سمه نه وي.

که پر خپل فکر باندې فکر وکړو، زموږ مخ ته دوه لارې دي، یو دا چې باید د خپل استدلال سرچینې او طرز کره کړو او یا دا چې غلي شو.

غلي کېدل د بهرګورو کار نه دی. اروپوهان وايي، چې بهرګوري ښه جرګه مار او ډېر خبرلوڅ وي. غلي کېدل د ځان ګورو(Introvert) یا درون لیدو کار دی. دا دویم ډول افراد د بهر پر ځای په ځان کې ورک وي، فکر کوي، چې بهر هر څه سم دي؛ خو د ده لید سم نه دی. د شاه سعود لاندې شعر د همدې خلکو د زړه غږ دی:

> لېونتوب مې بس همدغه و سعوده
> له هر چا نه به په ځان کې پټېدمه

دا د عمل خلک نه وي، د تیورۍ خلک وي، د بهر پر ځای یې د فکر لورې ځان ته وي، د جلوت پر ځای یې خلوت او د هجوم پر ځای یې تنهايي خوښه وي او څوک چې د ده د تنهایۍ نشه خرابوي، په ښه سترګه ورته نه ګوري، د کوچنیانو شور او د مجلسونو خبرې پرې ښې نه لګي. اروپوهان وايي، چې د دوی ښه وخت شپه ده، چې نړۍ خاموشه وي.

زه نه پوهېږم، چې سعود به ځان ګوری وي که نه؛ خو د اروپوهنې پر بنسټ ویلای شم، چې زیاتره شاعران، مفکرین او لیکوال، په تېره ناریالیست هغه ځان ګوري وي. د یونان نامتو تراژیدي شاعر یورپیدیس په غارونو کې ډرامې لیکلې، فیلسوفانو د فلسفو د ایجاد لپاره ځان یوازې کړی او بودا له خلوته راپاځېدلی و. د صوفیانو په اړه هم دا خبره ډېره اورو، چې په ځان کې ورک وي او دا خبره ناسمه هم نه ده، ځکه د خدای په کایناتو کې فکر وخت ته اړتیا لري. مولوي وايي:

> ای نسخه اسرار الهی که تویی
> و ای آیینه جمال شاهی که تویی
> بیرون ز تو نیست هر چه در عالم هست
> از خود بطلب آن چه خواهی تویی

اروپوهنه وايي، چې ځان ګوري په خبرو کې محتاط وي، چې ستاینه یې کوې، لکه یو بې ګټې کار چې کوې او له هجومه ویرېږي، چې هسې نه پکې ورک شي.

۳مخ


څېړنپوه مولاجان تڼیوال


## د پښتنو او پښتو ژبې په اړه د ځینو څرګندونو شننه

که چېرې د موضوعاتو او مسایلو د سپیناوي په باره کې د پوهانو او څېړونکو له خوا تر سره شویو پلټنو، ګروېږنو، څېړنو او د هغوی څخه لاسته راغلیو پایلو ته وکتل شي دا په ډېرې اسانۍ سره ورڅخه څرګندېږي چې په دې باب د نظر یووالی او رښتیني پایلې د اوږده وخت د تېرېدو څخه وروسته ترګوتو شوې دي او همدې کړنو او څېړنو د پوهانو او څېړونکو ترمنځ د نظریاتو اختلاف هم له منځه وړی دی. د ژبو په اړه څېړنه هم یو داسې ستونزمن کار دی چې د پوهانو له خوا د ډېرو هلو ځلو څخه وروسته یې اوسنی موجود نظم خپل کړی دی.

که څه هم تر اوسه پورې د نړۍ ټولې ژبې نه دي څېړل شوې، بیا هم ژبپوهان په دې توانېدلي دي، چې د نړۍ زیاتې ژبې د ژبپوهنې د معیارونو په اساس د ژبنیو ځانګړنو او تاریخي شواهدو له مخې په ژبنیو کورنیو باندې ووېشي. دا یوه جوته خبره ده چې په یوه ژبنۍ کورنۍ پورې د اړوندو ژبو په منځ کې د خپلوۍ کچه فرق کوي او په همدې علت په یوې ژبنۍ کورنۍ پورې اړوندې ژبې په ډلو او څانګو باندې وېشل کېږي. د ژبو ترمنځ خپلمنځي ډېرې نیږدې اړیکې هم د څېړونکو او پوهانو د ډېرو هڅو د ترسره کولو له امله جوتې شوې دي او دا چار هم د علمي صلاحیت په برکت پرمخ بیول کېږي.

پښتو ژبه چې د نړۍ له ډېرو لرغونو او زړو ژبو څخه ګڼل کېږي مخکې له دې څخه چې د څېړنو په پایله کې خپل رښتینی ځای او مقام خپل کړي مختلفو ولسونو او قومونو ته یې نسبت شوی دی او په بېلابېلو ژبو او ژبنیو کورنیو پورې اړونده ژبه بلل شوې ده او د دې ترڅنګ داسې تورونه هم ورباندې پورې شوي دي چې په هېڅ صورت د اورېدلو، لوستلو او منلو وړ نه دي. هغه څه چې په ځینو کتابونو کې د پښتنو او پښتو ژبې په باره کې لیکل شوي دي پرته له دې چې افسانې یې وګڼو د هېڅ ډول علمي، اخلاقي او منطقي سجایاوو درلودونکي اسناد نه دي.

زما په اند خو مغرضانه لیکنې او څېړنې پر حقایقو نه وي بناء شوې، یوازې د شومو اغراضو لپاره لیکل کېږي، کتابونو ته لاره پیدا کوي او ثبت کېږي. لیکوال باید تر لیکنې وړاندې د خپل عزت د ساتلو په اړه فکر وکړي، ځکه چې هر څوک د هغه د کړنو له مخې پېژندل کېږي.

دا یوه طبیعي خبره ده، کله چې د یوه ملت په اړه څه ویل کېږي ژبه یې هم په هماغه ډول نورې نړۍ ته وروپېژندل کېږي؛ لکه څنګه چې د ځینو کسانو په لیکنو کې پښتانه بېلابېلو قومونو ته منسوب ښودل شوي دي همداسې کړنه د پښتو ژبې په برخه کې هم شوې ده. که چېرې په دې باره کې لیکنې او څېړنې ته ملا وتړل شي ډېر وخت غواړي او موږ د موضوع څخه لرې کوي، خو د دې لپاره چې د علمي څېړنو حرمت مو ساتلی وي او د هغوی اهمیت مو له پامه نه وي غورځولی یو څو ټکي دلته یادوو او د خپل توان تر کچې پورې یې سپړو. د پښتنو د پېژندنې لپاره په یوه اثر کې ویل شوي دي چې: پښتانه چا د هغوی د خپل عنعنه‌یي روایت په اساس بني اسرائیل بللي دي او چا بیا قبطیان ګڼلي دي... چا بیا په عین وخت کې له راجپوتانو، برهمنانو، جټانو، یونانیانو، ترکانو، عربانو او نورو سره ګډ کړي دي...

که چېرې سړی په دې او دېته په ورته نورو ټکو باندې لږ څه غور او تمرکز وکړي، نو په ډاډ سره ویلای شي چې په دې څرګندونو کې عناد، تاریخي دښمني او په څېړنه کې ځان نه ستړی کول نغښتي دي. هغه څه چې د پښتنو په باره کې ویل شوي دي د دوی د ژبې په باره کې هم په پرله پسې او تکراري ډول په ځینو اثارو کې راغلي دي او حتی یو شمېر پښتنو لیکوالو او څېړونکو هم پرته له دې چې په دې باره کې غور او پلټنې وکړي او یا لږ تر لږه یو څه ووايي هماغه د پردیو لیکنې یې په خپلو اثارو کې خوندي کړي او تر موږ پورې یې را رسولې دي، ما ته داسې ښکاري چې دوی په دې ارتباط نور تاریخي اسناد او شواهد نه دي کتلي، ځانونه یې نه دي ستړي کړي او کاپي کول یې څېړنه بللې ده، د دې امکان هم شته چې نورو منابعو ته به یې لاس رسی نه وي لرلای. په هر صورت یو څه یې باید ویلي وای.

دا یوه ښکاره خبره ده چې جغرافیوي موقعیت، د هېوادونو او ولسونو ترمنځ نیږدې اړیکې او جنګونه او جګړې په هېڅ صورت بې اغېزې نشي پاتې کېدای. د داسې اغېزو نمونې او بېلګې په ژبو او ګردودونو کې په اسانۍ سره ترسترګو کېدلای شي، که چېرې دا ووایو چې پښتنو د یوې سیمې څخه بلې سیمې ته کوچ کړی دی، نو دا هم باید ووایو چې تقریباً ټول بشریت د دې لرۍ خواره او ترخه څکلي دي. لېږد، د بشریت د تاریخ ډېر لوی باب جوړوي. د نړۍ ډېر پیاوړي هېوادونه له دې پړاوونو څخه تېر شوي دي. د یوې سیمې څخه لېږد او بلې خوا ته تلل یا لیښل د مختلفو عواملو د رامنځته کېدو په وجه رامخې ته

۲مخ


ډاکټر احسان الله درمل


## د کلال قالب

نقد او کره کتنه د ژوند د هرې برخې د اصلاح او پرمختګ لپاره حیاتي ارزښت لري. په کومه ټولنه کې چې د نقد او کره کتنې په وړاندې حساسیت زیات وي، پرمختګ او اصلاح یې پخ روان وي. ادبي کره کتنه شهکارونه را منځته کولای او معرفي کولای شي؛ علمي او ساینسي کره کتنه او ډیالوګ د نویو نظریو او نویو علمي لارو پیدا کېدو ته لارې هواروي او دیني مصلحان او کره کتونکي ټولنه د دین او مقدساتو په نامه له اوهامو او خرافاتو څخه ساتي. د کره کتنې یوه لویه برخه فرهنګي یا کلتوري کره کتنه ده، چې انسانان په کې د یوې ټولنې فرهنګ او کلتور د یوه اثر په توګه تر کره کتنې لاندې نیسي او د ونې په څېر یې اضافه او ناکاره څانګې اره کوي. مثالونه ګڼ دي، خو تاسې چې د نړۍ په تاریخ کې د هر ملت اوسني فرهنګي، ادبي، اقتصادي، مذهبي او علمي پرمختګونه ګورئ، تر شا به یې د دې برخو د کره کتونکیو لاس وي. که سقراط، افلاطون او ارسطو د پخواني یونان فرهنګي، فکري او ادبي چاپېریال نه وای نقد کړی، لا به هم د زړونو او ذهنونو کعبې له پخوانیو خدایګوټو ډکې وې؛ که د مارتین په څېر مذهبي کره کتونکی نه وای، کلیسا به اوس هم د جنت سرټیفیکټونه پلورلای؛ که والټیر، روسو، هوګو، برونو، ګالیلو، بیکن او سلګونه نور ساینسي، فرهنګي، ادبي او فلسفي کره کتونکي نه وای، څه فکر کوئ چې وضعیت به دغسې وای، لکه دی چې؟ که موږ خوشحال نه لرلای، اوس به مو هم د روښانیانو نثر او نظم شهکارونه ګڼلای او...

له بلې خوا فرهنګ د یوه لوی اتوموسفیر او نامرئي چاپېریال غوندې دی، چې د انساني ټولنې ټول کړه وړه یې تر اغېز لاندې دي. فرهنګ د یوې سترې کارخانې غوندې دی، چې تولید یې ځانګړې او یو له بله متفاوتې بشري کتلې یا ټولنې دي. فرهنګونه د قالبونو غوندې دي، چې د انساني ټولنو افکارو او عاداتو ته قالبي او مشخصه بڼه ورکوي. که قالب منظم وي، منظم انسانان تولیدوي او که غیرمنظم وي، تولید یې هم نامنظم وي. که قالب مربع ډوله وي، تولید یې مربع او که مستطیل ډوله وي، تولید یې مستطیل ډوله دی. دغه قالب که د وخت او زماني له تقاضو سره سم انسانان تولیدوي؛ دغه تولید شوي انسانان که په خپل منځ کې له یو بل سره او د نورو فرهنګونو په قالبونو کې له تولید شویو بشري کتلو سره په مینه او سوکالۍ کې وخت تېرولای شي، بېشکه چې قالب (فرهنګ) سم دی او باید د یوه ارزښت په څېر وساتل شي. خو که د زماني تقاضې بدلې وي؛ شاوخوا ټول قالبونه اپډېټ او بدل شوي وي او زموږ قالب او تولید لا هم پخوانی وي، نو د قالب په بدلېدو او اصلاح کېدو فکر پکار دی. قالب ارزښت نه دی، مقدس نه دی او معبود نه دی، چې نه دې په کې خبره کېدای شي او نه دې یې اصلاح ممکنه وي. لاندې بېلګه یوازې د خبرې د اسانولو لپاره لیکم:

فرضاً پنځوس کاله وړاندې یو څوک په کلي کې اوسېده؛ خلکو په کورونو کې پاکې اوبه نه لرلې؛ ښځو به منګیو کې له ګودرونو اوبه را وړې؛ دې کلیوال ته فکر پیدا شو، چې کلالي زده کړي او داسې فرضاً کړئ چې د منګیو د جوړولو لپاره یې یو قالب هم جوړ کړ. سړي په قالب کې هره ورځ لس شل منګي جوړول؛ منګي یې خرڅېدل او منګیو هم د خلکو په ژوند کې نقش درلود. خو دېرش کاله وروسته، خلک بدل شول؛ کلي ښار شو؛ هر کور ته پاکې اوبه راغلې؛ ګودرونه وران شول؛ د منګیو نقش ختم شو او هغه نجونې چې په منګیو کې یې اوبه راوړې اوس ښځې دي او غواړي چې لمسیانو ته یې پوهنتون ووایي .... اوس نو دوه صورتونه په پام کې ونیسئ:

اول دا چې کلال ماما لا هم د منګیو جوړولو په قالب مین دی؛ هره ورځ بلاناغه لس، شل منګي جوړوي؛ دا منګي هېڅوک نه اخلي خو هره ورځ یو څو له یو بل سره په ټکر کې مات شوي وي؛ کلال خپل زامن او اولادونه بل کار ته نه پرېږدي، ځکه چې منګي جوړول، د منګیو قالب او کلالي د کلال لپاره داسې یو بت دی، چې باید مات نه شي. که څوک کلال ته د قالب په اړه څه ووایي بده هم پرې لګېږي او سر پرې ماتوي...

دوهم دا چې کلال له ځان سره فکر کوي؛ شاوخوا ګوري؛ د خلکو اړتیاوې، ذوق او زمانه سنجوي؛ د منګیو قالب پاس په تاخچه کې ږدي او د نویو او ښکلیو ګیلاسونو او د ښباک د نورو لوښیو قالبونه جوړوي. د ده نوي لوښي خاورین دي؛ خو ډېزاین او شکلونه یې داسې دي چې خلک یې په مینه اخلي. ځکه یې اخلي چې هم د خاورینو منګیو یاد تازه کوي او هم د نوي زماني اړتیاوې.

په دې بېلګه کې کلال د ټولنې هغه کتله وګڼئ وبولئ، چې فرهنګ جوړوي؛ د منګیو قالب فرهنګ دی، چې مشخص ډول منګي په کې جوړېږي؛ منګي صرف د پوهېدا لپاره هغه انسانان وګڼئ چې د دې فرهنګ ټیپیکل نمونې وي؛ کلی نړۍ وګڼئ او د قالبونو بدلول د فرهنګي اصلاح او د فرهنګ د بدلولو یوه بېلګه وګڼئ.

که تاسې ته داسې ښکاري چې کلال په اول صورت کې په حقه دی، بیا تاسې هم په حقه یاست، چې خپل فرهنګ درته د نړۍ تر ټولو ښکلی، منلی، مقدس، له وخت سره برابر او د انساني ارزښتونو مدافع ښکاري. خو که فکر کوئ چې دوهم صورت هم د کلال او هم د هغه د اولادونو په خیر دی، نو پرېږدئ، چې خلک د قالب په اړه وغږېږي؛ د تولید په اړه یې بحث وکړي، د اړتیا په اړه یې پوښتنې را پورته کړي او تاسو ته ووايي، چې په دې قالب کې تولید شوي منګي د خلکو د تندې علاج کولای شي، که خپله هم وچه خوله پراته دي او هر ورځ له یو بل سره په ټکر کې ماتېږي.

خبره د کره کتنې وه. کره کتنه په هېڅ صورت له ګټې خالي نه ده. کره کتونکی ممکن سم وي، ممکن غلط. که سم وي، تر کره کتنې لاندې پدېده به اصلاح شي او که ناسم وي په خپله به سم شي.

د نقد په وړاندې د حساسیت د توجیه کولو لپاره ځینې خلک د نقاد د نیت خبره کوي. دا هم سم دلیل نه دی. اول خو دا چې د نیت د معلومولو لپاره د ترمامیتر یا فشار آلې په څېر کومه آله نه لرو، چې ښه یا بد یې معلوم کړو او دوهم دا چې حتی که یو څوک ما له بدنیتۍ هم نقدوي، ولې خپه شم؟ که یې نقد سم وي، کور یې ودان. که ناسم وي، خلک خو واښه نه خوري چې د ده نقد به ګوري او ما به نه ګوري.

کره کتنه هنداره ده؛ که څوک د خپل مخ او خپلې څېرې له اصلاح سره مینه لري، هنداري نه ماتوي. د ښکلیو خلکو په کورونو کې هنداري ډېرې وي او آن په جېبونو کې یې هم ګرځوي. خو د معتاد په جېب کې ممکن هنداره او ږمنځ و نه مومئ، ځکه چې هغه غواړي له حقیقته تېښته وکړي او له واقعي نړۍ څخه د نشې په وزرو وا لوځي.

د مقالې پای


څېړندوی محمد طاهر شرر


## ادبي غلا او تأثر

ادبي غلا یو ډول جنایت دی چې د مال له غلا څخه کم نه دی، ادبي غل افکار پټوي او دوهم غل دینار پټوي، ادبي غلا که د فکر وي او یا هم د متن وي غلا بلل کېږي، جریمه ده او قانون باید جزا ورکړي، کره کتونکو ادبي غلا په درې ډوله وېشلې ده، یو یې د الفاظو او ترکیبونو غلا ده، بله یې د معنی او مفاهیمو غلا ده او بله د لفظ او معنی دواړو غلا ده، ځینې کره کتونکي تاثر ته هم غلا وايي، دوی وايي چې دا هغه نالیدلی پل دی چې لیکوال او شاعر پرې له پورې وتلو وروسته ساحرانه غلا کوي، په دې وړه مقاله کې ما د نړۍ پر مخ د ځینو مشهورو لیکوالانو او شاعرانو د ادبي غلا، تاثر او الهام اخیستې بېلګې راخیستې دي چې دوی په خپلو مشهور کتابونو کې ترې ګټه اخستې، او هغه اقتباسات به هم ووینئ چې له مقدس کتاب قران کریم څخه ځینو مشهورو لیکوالانو راخیستي دي.

په نړیوال ادبي تاریخ کې تر ټولو مهمه غلا د مهم او مشهور شاعر د ویلیام شکسپیر کیسه" رومیو او ژولیت" ده، دا کیسه لسګونه کاله وړاندې ایټالوي لیکوال Matteo Bandello د " مینه روڼا" تر سرلیک لاندې لیکلې وه،نو شکسپیر د"رومیو او ژولیت" تر عنوان لاندې ډرامې ته واړوله، د دې ادبي شاهکار شهرت په ټوله نړۍ کې خپور شو، که څه هم د خپل ملګري ایټالوي لیکوال سره یې ظلم وکړ.

خو تر دې لویه ادبي غلا د ایټالوي لیکوال دانتی ( Dante Alighieri ) "الهي کومیدي" ده، په دې کتاب کې یې د عربي فیلسوف شاعر ابو علاء المعري " د بخښنې لیک" تګلاره غوره کړې ده، دغه کتاب په لاتیني فرهنګ کې پېژندل شوی کتاب و، لومړی دا چې په اندلس کې عربي فرهنګ په اسپانیې باندې د عربانو د واکمنۍ پر بنسټ

۳مخ

لیکوال: پروفیسر انور جمال

ژباړه: نازو کمال




۷۲ـ **صرف** (ACCIDENCE): د عملي ګرامر اصطلاح ده، صرف د کلمو د پېژندلو علم دی. دا علم د صيغو په را پېژندلو کې مرسته کوي. د کلمو د ګردانولو همدارنګه له يوې صيغې نه د بلې صيغې د جوړولو قاعدې راښيي چې د يوه لفظ په سمه توګه ويل زده کړو. دغو اصولو او قواعدو ته د صرف علم وايي. د دې په مرسته کولی شو چې دا معلوم کړو چې فلانی کلمه په اصل کې څه ده؟ کوم بدلون په کې راغلی دی؟ او د څه لپاره بدله شوې ده؟ په کلمو کې بدلون څکه راځي چې له کلمې مفهوم واخيستل شي. د مثال په ډول: نظم يوه کلمه ده، د بدلونونو له لارې ترې دا بېلابېلې بڼې رامنځ ته شوي دي او دا کلمې جلا جلا معناوې هم لري. لکه:
انتظام، ناظم، منظوم، منتظم، منظومات، انتظامات.
همداسې ضرب، يضرب، ايضرب او داسې نور. د کومو اصولو او قواعدو پر اساس چې دا کلمې بدلې شوي دي، صرف يې بولي، په دې معنا چې د مفردو کلمو د جوړولو علم ته صرف ويل کېږي.

۷۳ـ **صنف** (GENRE):په ادب کې صنف د ډلبندۍ يوه نوع ده، لکه په نثر کې چې ډرامه، داستان، ناول او داسې نور لرو، همدارنګه د نظم په برخه کې قصيده، مثنوي، مرثيه، غزل او نور شامل دي. د تخليقي ادبياتو له تاريخ څخه جوتيږي، چې د بېلابېلو موضوعاتو د تخليق لپاره بېلابېل اصناف مناسب وي، همدارنګه ټولنيز او سياسي چاپيريال هم د اصنافو د پرمختګ لپاره اړين دی او د نړۍ هرې ژبې د نورو ژبو له ادبي اصنافو څخه صنفونه اخيستي او د اصنافو يو نظام يې ځانونو ته جوړ کړی دی.

۷۴ـ **تصنيف** (WRITING WORKS): هغه کتاب چې په خپله ذاتي وړتيا او د خدای ورکړې لياقت پر اساس وليکل شي، تصنيف يې بولي. تصنيف تخليقي او غير تخليقي دواړه کېدای شي. هر تخليقي کتاب تصنيف وي، خو هر تصنيف تخليق نه شي کېدای او تصنيف کونکي ته مصنف وايي.

۷۵ـ **ضلع جګت**: په يوه عبارت کې پر له پسې ابهام راوړلو ته ضلع جګت ويل کېږي. دا پر له پسې ابهام په اصل کې د مراعات النظير يو ډول دی، په دې معنا چې د يوې کلمې له تناسب نه په پر له پسې ډول نوره کلمې راوړل شي چې ابهام په کې وي، ضلع جګت يې بولي. د مثال په ډول: ونه ده، ميوه، پاڼې، ريښه، څانګې او د غوټۍ کلمو يادونه مراعات النظير دی، خو که د دغو کلمو په معنا کې ابهام وي، هغه ته بيا ضلع جګت وايي. پوهان دا يو بازاري څيز ګڼي، څکه دا يوازې يو ذهني تکليف دی، څکه لوستونکي په اسانه نه پرې پوهېږي او د پوهېدو لپاره بايد ډېره ذهني هڅه وکړي.

۷٦ـ **طرح، طرحي مشاعره، طرحي غونډه، طرحي مسره**: دا شعري اصطلاح ده، معنا يې لرې کول، بنسټ اېښول، طرحه ورکول دي. او اصطلاحاً په خبرو کې مرسته کولو ته وايي. طرحه، طرحي مسره او طرحي ناسته له مشاعرې سره تړلي اصطلاحات دي. په ځينو محفلو کې شاعران په ځانګړې قافيه او رديف کې شعر ويلو ته پابندېږي، دې ته طرحه، د مسرو طرحه، يا طرحه شوي مسرې ويل کېږي. په دې معنا چې په داسې مشاعرو کې شاعران د شعر ويلو آزادي نه لري او خپله د رديف، بحر او قافيې انتخاب نه شي کولی، دوی بايد د مخکې تر مخکې ورکړل شوي بحر، قافيې او رديف پر اساس غزلې يا شعر وليکي. او په داسې مشاعره کې چې طرحه شوي مسرې ورکوي، د طرحي مشاعرې يا طرحي غونډې په نامه يادېږي.

۷۷ـ **عروض** (PROSODY): عروض هغه اساسي قواعد دي چې پر اساس يې د شعر وزن پېژندل کېږي. د لومړي ځل لپاره په ۱۴۰ هجري کال کې خليل بن احمد عروض رامنځ ته کړل. ده د شعر د وزن لپاره بېلابېل بحرونه وټاکل او (ف، ع، ل) يې د اساس په ډول غوره او د حروفو له حرکت او سکون څخه يې شعرونو ته جلا جلا وزنونه جوړ کړل. تر خليل بن احمد وروسته د ده په عروضي نظام کې بې شمېره زياتونې هم وشوې.

۷۸ـ **عروضي** (PROSODIST):هغه کس چې عروض يې زده وي، يا د شعر په تخليق کې د عروضو قواعدو ته لومړيتوب ورکوي، همدارنګه له عروضو سره تړلي پر ټولو مسايلو باندې ډېر وپوهېږي، عروضي يې بولي.

۷۹ـ **علامت، سيمبول** (SYMBOL/ SYMBOLISM):
سيمبول د ټولو فنونو اصطلاح ده، هره کلمه چې له خپلې لغوي معنا پرته د بلې معنا لپاره وکارول شي، سيمبول ورته وايي. په وييونو کې هره کلمه خپله ځانګړې معنا لري، يعنې هره کلمه د ځانګړې معنا لپاره جوړه شوې ده، که موږ يوه کلمه تر خپلې ځانګړې معنا پرته بله معنا ترې واخلو، نو سيمبول ورڅخه جوړېږي. په دې معنا چې يو لفظ په دوو بڼو يعنې حقيقي او غير حقيقي (مجازي) بڼو کارېدلی شي، د کلمې مجازي استعمال سيمبول دی. داسې خو هره استعاره،هره کنايه، بلکې هره اصطلاح سيمبول ده، ويلی شو چې هره کلمه په خپل ذات کې سيمبول کېدای شي. د شاعرۍ په يوه تعريف کې هم راځي: چې شاعري د سيمبولونو ژبه ده. هر لوی کلام په سيمبول سينګار شوی وي. ژبې هم درجې لري، د عامو ژبه، د خطيب ژبه، د شاعر يا اديب ژبه، د پيغمبرانو ژبه، د خدای پاک ژبه، نو چې کلام څومره لوی وي، هغومره ډېر او په زړه پورې سيمبولونه هم په کې وي. په کلاسيکه شاعرۍ کې ګل، بلبل، شمع، پسرلی، منی، مې، جام، ساقي، چمن او داسې نوره سيمبولونه دي. په تېرو څو کلونو کې سيمبول له ديواني شاعرۍ څخه په کيسو کې د داخلېدو هڅه وکړه، نو د سيمبولونو نوی تحريک رامنځ ته شو، خو دغه د سيمبولونو کيسې ډېرې بريالۍ نه شوې او يوازې د يوې تجربې په بڼه پاتې شوې.

۸۰ـ بديع: شعري او کره کتنيزه اصطلاح ده، په کلام يا په شاعرۍ کې د ښکلا رامنځ کولو وسيلو ته بديع ويل کېږي. دا وسيلې شعر ته داسې ښکلا ورکوي، چې پر لوستونکو ډېر خوندور اغېز ښندي. د بديع جمع بدايع او د صنعت جمع صنايع دي، نو د دوی ډولونو ته صنايع بدايع هم کارول کېږي، په ټوله کې ويلی شو چې بديع هغه علم دی چې د کلام پر ښکلاوو بحث کوي. لف و نشر، تضاد، حسن تعليل، مراعات النظير، ايهام، ابهام، تجنيس، مبالغهو ترصيع او تلميح دا ټول صنعتونه دي چې بدايع صنايع ورته وايي.

**۸۱. منقوله علوم ـ معقوله علوم**
مشرقي پوهانو علوم په دوو اساسي برخو وېشلي دي:
۱. منقوله علوم ـ قرآن، حديث، د وييونو علم، معاني علم، صرف و نحوه، د اشتقاق علم او تفسير ته منقوله علوم ويل کېږي، د دغو ټولو علومو ماخذونه (منقول) يعنې قرآن او حديث دي.
۲. معقوله علوم ـ هغه علوم دي، چې بنسټ يې انساني عقل وي. رياضي، فلسفه، منطق او نور علوم معقوله علوم دي. **پای**

نعمت الله جلالي

# د متاخان ولسوالۍ پېژندنه

متاخان ولسوالۍ د پکتيکا ولايت په شمال کې پرته ده، د وګړو شمېر يې څلرويشت زره او سل تنو (۲۴۱۰۰) ته رسېږي، چې د وخت د حکومتونو له خوا يې وګړو او دې ولسوالۍ ته نه پاملرنه، د دې لامل شوې ده چې وګړي يې په ډېرو ستختو حالاتو کې ژوند تېري او له همدې امله يوه وروسته پاتې ولسوالۍ ګڼل کېږي.
د دې ولسوالۍ شمال ته د پکتيا ولايت زرمت ولسوالۍ، لويديځ ته يې د غزني ولايت د اندړو شېلګر ولسوالۍ، جنوب لويديځ ته يې مرکز (ښرنه) او ختيځ ته يې د سروضې ولسوالۍ پرته ده.
متاخان ولسوالي نږدې پنځه څلويښت (۴۵) لوی او واړه کلي لري او د طبعيت له پلوه په زړه پورې اوبه او هوا لري، چې له امله يې دا سيمه سمسوره ده او رنګا رنګ مېوې په کې کيږي. د منو او زردالو باغونه په کې ډېر دي. د متاخان ولسوالۍ يوه ښکلې غرنۍ سيمه ده، په ژمي کې ډېره سړه وي د سوړوالي لامل يې د ډېرو واورو اوربنت دی.
په متاخان کې زيات قومونه ميشت دي؛ لکه: اندړ، تاروخېل، سليمانزي، احمدزي، نيازي، مرياني، دولتزي او لړ څه په کې خروټي او ځدراڼ هم په دا وروستيو کې مېشت شوي دي.
د متاخان ولسوالي وګړي په اقتصادي لحاظ کمزوري دي، له ستونزو او بېوزليو ډک ژوند لري، د دې ولسوالۍ ډېری وګړي له هېواد څخه بهر په نورو هيوادونو کې په کار او مزدورۍ لګيا دي او ګڼ نور بيا په خپلو سيمو کې د کروندې، مالداري او لرګيو له لارې خپل اقتصاد برابروي.
الحمدلله د وروستی لسيزې په جريان کې د دې سيمې په وګړو کې د زده کړې روحيه پياوړې شوې ده او په پراخه کچه يې زده کړو ته ملاوې تړلې دي.
د دې سيمې وګړي ځانګړې رواجونه کاڼي، خلي، نرخونه او رواجونه لري، د دې سيمې وګړي په خپلو کې له قوي قبيلوي جوړښتونو هم برخمن دي؛ تر اوسه د لويو پرېکړو او لانجو د حل او فصل لپاره له جرګو او مرکو څخه کار اخلي. د متاخان ولسوالي ټول وګړي په پښتو ژبه خبري کوي.
د دې سيمې په وګړيو کې د څلورو ګردودونو لوی شمېر ويونکي شته، لکه: د اندړو، تاروخېلو، احمدزيو، مريانيو او سليمانزيو ګردودونه. **د مقالې پای**

# د پښتنو او پښتو ژبې په اړه ...

کېږي. کله نا کله خو طبعي پېښې هم په داسې حالاتو کې غوڅه ونډه لري.
موږ وړاندې دا يادونه وکړه، چې روايتونو ته د دې زمينه برابره شوه چې اسنادو ته لاره پيدا کړي. د دوی له منځه زوړ او عام روايت دا دی، چې وايي پښتانه بني اسرائيل دي. هغه پخوانی تحريري سند چې دا روايت يې په خپله سينه کې خوندی کړی دی د ابوالفضل ((ائين اکبري)) دی چې له ۱۵۹۷ څخه تر ۱۵۹۸ پورې ليکل شوی دی. په دې ليکل شوي اثر کې دا هم راغلي دي؛ هغه اثر چې د پښتنو د اصل او نسب روايت په تفصيل سره په کې بيان شوی دی هغه د نعمت الله هېروي ((تاريخ خان جهاني و مخزن افغاني)) دی چې د ٦۱۲ څخه تر ٦۱۳ کال پورې ليکل شوی دی.
د پښتنو په اړه دا ډول روايتونه او افسانې د نورو ليکوالو او څېړونکو په ليکنو او آثارو کې هم ترسترګو کېږي او لړۍ يې دومره اوږده شوې ده چې ځينو ختيځ پېژندونکو هم په خپلو اثارو کې په ډېر مد او شد سره يادونه ورڅخه کړې ده. بده به نه وي که دلته د يوه ختيځ پېژندونکي خبرې چې جورج روز نومېږي د موضوع سره د تړاو له مخې را واخلو: روز د پښتنو او يهودو، د اصل او نسب په باره کې يو مستقل کتاب ليکلی دی. دا کتاب چې ((افغانان، لس قبيلې او د شرق سلطانان)) نومېږي په ۱۸۵۲ کال کې خپور شوی دی. په دې اثر کې زيار اېستل شوی دی چې د اسرائيلو لس ورکې قبيلې وښيي. په دې اثر کې دا هم ويل شوي دي چې دا لس قبيلې افغانستان ته تللې دي او پښتانه يې اولاده ده.
په دې ځای کې دا پوښتنه را پيدا کېږي چې دا لس قبيلې څنګه، په څه ډول او په کومو لارو افغانستان ته راورسېدې؟ په کومو برخو کې يې استوګنه غوره کړه او بيا څنګه او په څه شکل داسې تالا ترغۍ شوې چې خپله ژبه يې له لاسه ورکړه، خو اولادونه يې ښه ډېر شول. که چېرې د متن دغه برخه تحليل او وڅېړله شي له وړايه دا ورڅخه څرګندېږي چې دا نظر نه يوازې دا چې ډېر ټيټ دی، علمي هم نه دی. که د اسرائيلو لس قبيلې د پښتنو پلرونه وي، نو بيا ولې د دوی اولادې (پښتنو) بله ژبه (پښتو) خپله کړه او خپله ژبه يې د لاسه ورکړه. علمي او منل شوی اصل خو دا دی چې اولادونه خپله مورنۍ ژبه په کورنۍ او ژبني چاپيريال کې زده کوي. دا لس قبيلې خو به حتماً ډېرې زياتې کورنۍ وې او په خورا ستر چاپېريال کې به يې ژوند کاوه، څنګه وشول چې زوذات يې د ميليونونو په شمار شو او ژبه يې بې موجبه ورکه او متروکه شوه. د ژبې ورکېدل او متروکېدل ځانته خپل عوامل او علتونه لري. کاشکې يو څه خو هغه عوامل هم ښودل شوي وای چې يا لږ رښتياني وای او يا يې د واقعيت سره ډېره لګولای.
که چېرې دې قبيلو پښتو ژبه خپله کړې وي، دا د دې معنا لري چې پښتانه او پښتو ژبه تر دغو لسو قبيلو لا دمخه په دې جغرافيوي پراخه خطه کې موجود وو. دا چې پښتانه د دې لسو قبيلو اولاده بلل شوي دي ګران لوستونکي کولای شي چې خپله پرېکړه او قضاوت وکړي. په همدې ډول که چېرته رنګ، ډول او کره وړه د لرېوالي او نيردېوالي معيار وګڼو، نو د نړۍ د ډېرو لرې پرتو ګوټونو اوسېدونکي يو د بل سره د ډول، رنګ او کړو وړو ورته‌والی لري. همدا شان که په يوه ژبه کې د بلې ژبې د وييونو شتوالی په دې معنا وي چې هغه يوه ژبه به د هغې بلې څخه را پيدا شوې وي دا کوم علمي دليل نه دی، بلکې استثنا ده. د نړۍ ډېرې پرمختللې ژبې له استثنا څخه نه دي خلاصې او ډېر پردي ژبني توکي په کې مونډل کېدای شي. پر ځای کېږنه به وي که په دې ځای کې د خپلو سترګو ليدلی حال بيان کړم: کله چې ما په برلين کې د هومبولټ په پوهنتون کې لوړې زده کړې کولې يوه ورځ مې د څېړنې او مېتودولوژۍ د استاد سره (بايد په تأسف سره وواېم چې نوم يې راڅخه هېر شوی دی) خبرې کولې نومووړی په عربي ژبه خورا ښه پوهېده، څکه ما ته يې وويل چې په مصر کې يې څو کالونه تېر کړي دي. هغه څو داسې وييونه ياد کړل، چې د ده په وينا په اصل کې عربي وو، خو په جرمني ژبه کې يې ځای نيولی و؛ نو ايا موږ ويلای شو چې جرمنيان عربان او جرمني ژبه له عربي ژبې څخه راوتلې ده؟!
د پښتو ژبې د ساميتوب او عبرانيتوب ډنډوره په اصل کې يو روايت دی، چې هيڅ علمي اصل او پرنسيپ يې نه مني. که يو څوک دې ډول اوټو بوټو ته غوږ ونيسي او پسې وپې غزوي د اصلي موضوع څخه لرې پاتې کېږي. په همدې علت زه هم د ډېرو يادونو څخه ډډه کوم، خو د يوې يادونې په باره کې د څو کرښو ليکل بې ځايه نه بولم، څکه که چېرې غلی ورڅخه تېر شم او په مقابل کې يې چپه خوله پاتې شم دا ستره بې انصافي راته ښکاري، ځينو اشخاصو ويلي دي، چې پښتو ژبه د دېوانو ژبه ده. په دې ځای کې د قلم عفت ته چې د يوه شخص په تېره بيا د يوه ليکوال د ښو اخلاقو او ښه کرېکټر ښکارندويي کوي پاملرنه، نه ده شوې. څوک چې د خپل ځان او اخلاقو خيال نه ساتي، د نورو د عزت او حقوقو د درناوي تمه هيڅکله ورڅخه نشي کېدلای. دېو، خو هغه خيالي او افسانوي وېروونکی موجود دی، چې نوم يې د ښو کړنو او کارونو لپاره نه، بلکې د وېرې، ډار... او نورو لپاره په تشبيهي ډول اخيستل کېږي.
د عميد په فارسي فرهنګ کې د دېو په اړه ليکل شوي دي چې: دېو هغه خيالي او افسانوي موجود دی چې خېره يې د انسان د خېرې سره ورته‌والی لري، خو ډېر بدرنګ او خطرناک وي، ښکرونه او لکۍ لري. په پخوا وختونو کې د شيطان غونډې له لارې څخه ايستونکي او بدکار موجود ته دېو ويل کېده.
که چېرې پورتنيو څرګندونو ته وکتل شي نو د سړي په ذهن کې دا پوښتنه خطور کوي چې هغه دېواني ټولنه چې پښتو ژبه يې د پوهولو راپوهولو په مقصد کاروله د نړۍ په کومه وچه کې يې موقعيت درلود او ګاونډيان يې کوم هېوادونه او ټولنې وې؟ که د پورتني نظر او يادونې ماهيت ته وکتل شي د ټول بشريت د ژبو سرچينې له وهم سره تړلې بولي.
که پښتو ژبه د دېوانو ژبه وي دا نورې ژبې د څه ډول موجوداتو ژبې وې. دېوان څنګه او چا له منځه يووړل او ژبه يې څنګه تر اوسه پورې لا ژوندۍ ده او دا اوسنی بشريت چې د زرګونو کالونو له اوښتو څخه وروسته لا هم د نړۍ پرمخ ژوند کوي د کوم اصل او نسب پاتې شوني دي. زما په فکر خو دا څرګندونه هيڅ علمي اساس نه لري څکه يې په اړه څه ويلو ته اړتيا نه ليدل کېږي. بله خبره دا ده چې که يوه ژبه د خورا ډېرو کالونو په تېرېدو سره ځانته او جامده پاتې شي او هيڅ ډول پرمختګ او تحول ونه مني د پوهولو راپوهولو حافظه او قوت له لاسه ورکوي. پښتو ژبې تحول او پرمختګ په ورين تندي منلی دي. په همدې اساس وايو چې دا ژبه د دېوانو ژبه نه، بلکې د بشريت د يوې سترې کتلې ژبه ده، ما په دې ارتباط چې دېو څه ډول موجود دی او اسلامي علوم يې په اړه څه وايي تر خپل توان پورې ځان ستړی کړی دی د افغانستان د علومو اکاډمۍ د اسلامي علومو د برخې څو محترم استادان مې په دې اړوند پوښتلي دي. دوی راته

۳مخ

څېړنوه دکتور عبدالظاهر شکيب

# يو نوم ورکی ديني عالم، شاعر او ليکوال

د کوز دير جندول معيارو د سيمې دا عالم، ليکوال، شاعر او روحانی شخصيت امام عادل جان حاذق نومېږي، د اروابناد مولوي منهاج (مشهور په پرخو حکيم) مشر ـ زوی دی، چې د ۱۹۳٦ميلادي کال د نومبر په ۳۰ نېټه د پښتونخوا د مردان ضلعې د طورو په کلي کې د خپل مور نې نيکه په کور کې دې نړۍ ته سترګې پرانيستې، پلار يې پرې عادل نوم کېښوده، خو نيکه به يې ورته له مينې عادل جان وايه، عادل جان چې کله پنځه کلن شو، نو خپل عالم پلار له ځانه سره په زدکړو بوخت کړ ، عادل جان حاذق ډېر هوښيار او ذکي زده کوونکی و، په لږه موده کې يې له خپل عالم پلار څخه دقرآن مجيد او احاديثو زده کړه تر سره کړه او قرآن او حديثو دوره يې وکړه، څرنګه چې دده پلار مولوی منهاج د ديني علومو تر څنګ د يوناني طب يو مشهور حکيم هم وو، نو وروسته يې پلار دا خبره خوښه کړه، چې اوس امام عادل ته د طب په علومو هم ځان خبرول په کار دي، نو عادل جان ته يې د طبي علومو په تدريس پيل وکړ، عادل جان د خپل ذهانت او لياقت په وجه په لږه موده کې له خپل پلار څخه د يوناني طبابت ډېره برخه زده کړه ، هغه د زدکړې په جريان کې، چې څوارلس کلن و، په شعر ويلو هم پيل کړی و ، خو خپل شعرونه به يې په پټه جوړول او چاته به يې نه ښکاره کول.
دده تره محمد جان کشور وايي: »حاذق چې به کله د طبابت له کارونو وزګار شو، نو له کوره به چېرته بهر لاړو يا سم يا غلط شعرونه به يې جوړول، ډېره موده يې دا روزګار وو او دده د شعرونو جذبات به په منده منده روان وو، خو د حاذق شعرونه زما څخه او دپلار نه هم پټ وو، يوه ورځ ما د حاذق د شعرونو يوه پاڼه په کوڅه کې په مځکه پرته وموندله، ما چې وکتله هغه دا شعر و:

تاب دې دعشق نه لري، دلبره پرق د شيشې
دعرش په ګوټ ګوټ دې خورې ستادجمال پلوشې
کون ومکان دې دې روښانه دجما ل په شمع
ستا د اوصافو نه رب ډکې د قرآن کړې حاشې
حُسن جما ل ته دې حيرانې دې حسينې حورې
خوبان دې ټول د محبت په کټارو کړه ترشې
جن و بشر فرشته ګان چې دې ستاينه کوي
په نمر،سپوږمۍ په مشتري بأندې شي غونې لشې
زه عادل جان حاذق حيران ستا په صفت کې يمه
څکه چې نه دې شم ښودلی په مثا ل کې څه شې

هر کله چې ما د حاذق د شعر داپاڼه وليده، ډېر خوشحاله شوم او ورته مې ووی، عادل جانه ستا شعرونه خو مې ډېر خوښ شو، عادل جان دغه وخت وشرمېده، سترګې يې ښکته کړې، ما ورته ووی، خانيه !خير دی شعرونه دې ډېر ښکلي دي، جوړوه يې او يوه مجموعه ترې تياره که، حاذق خو د حيا د وجهې نه غږ ونه که، خو خبره يې کوزه هم ونه غورځوله، يوه غټه کاپي يې خو ورځې پس تياره شوه او نوم يې ورله د لعلونو خزانه کېښوده. (۱)
امام عادل جان حاذق د خپلې شاعرۍ په اړه وايي: د شاعرۍ جذبه خو زموږ خانداني شی دی، د وړوکوالي نه مې څه ګډې وډې ويلې، خو چې کله د څوارلسو کالو شوم، نو دا مې لومړنی شعر و:

چې په شونډو يې د خياله پېزوان رپي
راته ښکاري زما ژوند په خزان رپي

دغسې مې درې څلور شعرونه نور هم جوړ کړل، خو بيا مې خيال وکړو، چې داسې شعرونه جوړول پکار دي،چې وروسته ترېنه څوك فايده واخلي، دغه وخت مې خولې له دا شعر راغی:

زاغ دګل په محبت پوهېږي نه
خرخيدېه خوندلذت پوهېږي نه
د سخي نه سبق ياد د سخاوت که
شوم بخيل په سخاوت پوهېږي نه

او چې کله مې طريقي (چشتيه طريقي)بيعت وکه، نو بيا مې د خيا ل طوطي دتصوف باغ ته پرواز وکه او دتصوف دګلزار طوطي شو، اوس زما د ناقص خيال دا شعرونه دي، چې ستاسې په وړاندې دي «. (۲)
امام عادل جان په رښتيا هم دتصوف او عرفان په ډګر کې نه ستړی کېدونکی مزل کړی او د عرفان له باغه يې دګلونو ګلدستې تړلې، دده يو عرفاني غزل داسې دی:

او جام عرفان نوش که پرې ځان وپېژنه
بيا که بينا د زړه سترګې جانان وپېژنه
دخيا ل دتصور دشيشې ګرد وغبار لرکه
فاسد خيالونه پرېده غمازان وپېژنه
بيا شه مجنون ته که ليدل دليلی غواړې
شاهي رنګ محل پرېده بيابان وپېژنه
بلبل دی که بورا دی په ګل نه په ځان مين دی
په شمعه چې ځان سبزي پتنګان وپېژنه
حاذقه مينتوب تش په ژبه دعوه نه دی
ته هم په کې دپيو مجنونان وپېژنه(۳)

امام عادل جان حاذق په نظم او نثر دواړو کې ښه لاس لري، نوموړي تر اوسه ۳٦ قلمي آثار ليکلي دي، چې له هغې ډلې يې ۲۳ په نظم او ۱۳ په نثر دي، چې موږ به يې يوازې نومونه راوړو :
په نظم ليکل شوي کتابونه: دلعلونو خزانه، د بنګو پياله، د وينو ګوټ، انجام محبت، بې واره سلګی، ديوان حاذق، ائينه سکندري (دا دحاذق داشعارو ترټولو ستر کتاب دی، چې څو سوه مخونه لري) جام قلندري، نردبان محبت، پښتون زلمی، دقلم ژبه، دګلو هار (دغه اثر

۳مخ

# ځان گوري او بهر ...

دا دواړه ډلې افراد په ټولنه کې وي، د دوی د صفتونو په اړه د احتمال خبره کېږي، ممکن بهرگوری د ځان گوري یو نیم صفت ولري او یا برعکس؛ خو دا دوه انتها دي. که بهرگوری په نړۍ کې دومره ورک شي، چې ځان هېر کړي، هم زیانونه لري او برعکس که ځان گوری دومره په ځان کې ورک شي، چې بهر نړۍ ورته مازې غبار ښکاري، هم له حقیقته مخ اړوي او دا دواړه انتهاوې موږ په خپله ټولنه کې عملا وینو.

موږ داسې بهرگوري لرو، چې خپلو خبرو، خپل لیک، خپلو سرچینو او خپلو دلایلو ته نه گوري، چې څومره دقیق دي؛ خو فکر کوي، چې همداسې ده. له دې ډول خلکو سره د پوهنپوهنې کتابونه مرسته کولای شي، چې علم څه دی؟ سرچینې یې څه دي؟ استدلال څه دی او بنسټونه یې کوم دي؟ نو ممکن دلایل یې علمي او خبرې دقیقې شي.

که تاریخ وگورو، د علم په اړه پاسنیو پوښتنو ته ځان گوري متوجه شوي دي. ځان گوري ښه اداره چیان او ښه سیاستوال نه وي، ځکه چې د عمل پر ځای د نظر خلک وي، ځکه چې دوی له حده زیات محتاط او زودرنجه وي. د ځان په اړه چې وړه خبره واوري، شاربې یې. کومه خبره چې کوي، بیا بیا پرې فکر کوي، ټول اړخونه یې څېري او دومره یې څېري، چې اخر هغه خبره له ویلو وباسي او د همده په ذهن کې مړه شي. ممکن دا خبره چې دی یې ووژني، د خلکو لپاره گټوره وي. دا د ځان گورۍ افراطي بڼه ده.

د ځان گورۍ افراطي بڼه دا ده، چې دی هېڅکله د ځان له بلا خلاص نه وي. تل زړه خوري، چې زما دا خوی ښه نه دی، داسې فکر مې ولې وکړ، دا خبره که وکړم، غبرگون به یې بد وي، زه باید دا یا هغه خویونه پرېږدم. د دې ټولو فکرونو لپاره دی وخت او تنهایۍ ته اړتیا لري او تنهایي ورته خوند ورکوي؛ خو بهرگوری دې فکرونو ته وخت نه لري، هغه له ځانه بې نیازه وي، هغه د نړۍ د بدلون جذبه لري.

د ځان په اړه د ډېر فکر له امله کله ځان گوری په متناقض شخصیت بدل شي، په یوه ټاکلي موقعیت کې چې څرنگه عمل پکار وي، هغسې ورته سخت شي، ځکه چې ځان هم کوټې او د ځان د لویۍ ښودو هڅه هم کوي؛ خو شرایط د ده د لویۍ نمایش ته چمتو نه وي، ځکه نو د شرایطو د غوښتنې او د ځان د ثابتولو ترمنځ توازن و نه ساتلا شي او لا ځان گوری شي.

که خپلې ټولنې ته وگورو، په هر ډگر به له دې ډول افرادو سره مخ شو او دا کومه بده خبره نه ده. د هرې ټولنې افراد یا بهرگوري یا ځان گوري وي؛ خو بده خبره دا ده، چې په دواړو اړخونو کې افراط وشي، هله ترې یوه ټولنیزه ستونزه جوړه شي. د افراط د مخنیوي لپاره ښه دا ده، چې پر ځان او نړۍ فکر وکړو او د ځان او بهر ترمنځ د توازن د راوستو هڅه وکړو، زموږ ټولنه دغې منځلارۍ ته اړتیا لري او دا منځلاري د ارواپوهنې پر بنسټ ممکنه ده، چې یو ځان گوری په مېلو او مجلسونو له ځان کوټلو راوگرځوو او بهر گوری د مطالعې یا نورو محدودو فکري ناستو په مټ ځان پېژندلو ته وروبولو. د مقالې پای

# یو نومورکی دیني عالم، شاعر او ...

دغیر منقوط صنعت په ډول لیکل شوی دی، یعنې په ټول کتاب کې یې دټکوواله توري نه دي راوړي ) سروټکې، شغله، د مینې تحفه، مصباح المعرفت، تخیلات حاذق، پرواز حاذق، مرثیه نسرین، سلگۍ، بې کچکوله فقیر، د ژوند نغمه، رفیق حاذق.

په نثر لیکل شوي کتابونه یې په لاندې ډول دي: سیرت مصطفی (ﷺ) ، معراج نامه، خواص حیوانات، ابلیس نامه، مجربات حاذق (دغه اثر دطب په اړه دی) معجزات رسول (ﷺ) ، جام شفا، فضایل درود شریف، طبي طلسماتي کرشمې (دغه اثر دطب په اړه په اردو ژبه لیکل شوی دی ) خواص جړې بوټي (داهم یو طبي اثر دی ) وصف رسول، خواص اسمأ الحسنی او طب روحاني.

د امام عادل جان حاذق شعرونه که په ژور نظر وکتل شي زیاتره یې تصوفي او عرفاني رنگ لري، دی وایي چې په هغه شعر کې چې د تصوف او عرفان خبرې نه وي نو زما په هغه شعر دې د غلط علامه وکښل شي:

د ضرب نخښه مې په هغه شعر ولگوه
چې په کې نه وي د عرفان د جام شربت خبرې(۴)

یا دا بیت چې وایي:

ته حاذقه هغه جام په مینه وسکه
په کوم جام کې چې لیدی شي د عرفان مخ(۵)

بل ځای بیا وایي :

که نه وي شعر کې زما د نصیحت خبرې
یاپه کې نه وي دالله د معرفت خبرې
هغه شعرونه زما بل تنور ته وغورځوه
که وي زماچېرې خلاف دشریعت خبرې(٦)

د امام عادل جان حاذق په اشعارو کې د حقیقي مینې تر څنگ د مجازي مینې پلوشې هم ښکاري، هغه د حقیقت او مجاز ډېر ښه گډون سره کړی، چې مجاز یې له حقیقته بېلول خورا ستونزمن دي. دده په اشعارو کې اجتماعي، اخلاقي، سیاسي، حماسي او نورو افکارو هم ځان را څرگند کړی دی، موږ دده د اشعارو له ډلې یواځې څو شعرونه دلته راوړو:

چې پکار دې نه په غم نه خوشحالۍ شي
اور دې پورې په دې داسې رورولۍ شي
چې په ځای دې د عزت بې عزتي کړي
ورك دې نوم د داسې سپکې خپلولۍ شي
چې ظاهر د سړي دوست پټ یې دښمن وي
لوغړن دې دی د غنو په پولۍ شي
چې زده کړې یې درنې خبرې نه وي
دغه ژبه دې سل ځایه رسولۍ(*)شي
کوم تربور چې ورکوي زهر شربت کې
ای حاذقه زر تر زر به په سولۍ شي(۷)

دا هم دده یو بل غزل:

چې ترڅو دې حرام نه که په خپل ځان خوب
وبه نه کړې په څنگله دجانان خوب
شپخه ورشه د مینو تماشې له
په سازونو تښتوي تې(**)مطربان خوب
د دلبر دښکلي مخ ددیدن وخت دی
نه کړي نه کړي د زړه سره عاشقان خوب
لېونی چې دجبین دمستۍ خال کړي
نه کوي په بستر هغه مجنونان خوب
ته حاذقه هغه جام په مینه وسکه(***)
په کوم جام کې چې لیدی شي د عرفان مخ(۸)

امام عادل جان حاذق اوس مهال د دیر جندول سیمې د معیارو په کلي کې اوسېږي ، عمر یې ۸۹ کلونو ته رسېدلی دی ، د سترگو دید یې بیخي کمزوری شوی او د ناورغۍ پر بستر پروت دی ، خو دده ځو آثار اوس اوس ښاغلي سعید احمد ساحل ترتیب کړي او څو مجموعې یې چاپ ته اماده کړي چې په نږدې راتلونکي کې به چاپ او د مینه والو لاسونو ته ورسېږي.

**مأخذونه او توضیحات**

۱ .محمد جان کشور. دامام عادل جان حاذق په قلمي کتاب ائینه سکندري سریزه .
۲. له امام عادل جان حاذق سره مرکه.
۳.محمد رحمن کشور. دامام عادل جان پر قلمي کتاب نرد بان محبت سریزه.
۴.امام عادل جان حاذق. آینه سکندري، ناچاپ اثر، ۱۳ مخ.
۵. امام عادل جان حاذق. نردبان محبت، ۳۰ مخ.
٦. امام عادل جان حاذق.آینه سکندري، ۱۹ مخ.
* یو ډول دانه ده .
۷. امام عدل جان حاذق. نردبان محبت، ناچاپ اثر، ۱۲ مخ.
** ترې.
*** وڅښه .
۸.امام عادل جان حاذق. نردبان محبت، ۳۰ مخ .

د مقالې پای

# ادبي غلا او ...

پریمانه خپور و، هغه چې د یوناني ارسطو فلسفه یې د ابن رشد په شرحو لاتیني ته اړولی وه او ارسطوطالیه الرشدیه باندې یې شهرت لاره، نو لاتیني ته د عربي کتابونو ژباړه ډېره اسانه وه، چې له هغو څخه یو د معري کتاب" د بخښنې لیک" و.

دا خبره هغه مهال راپورته شوه چې کله اسپانوي مستشرق بلاسیوس په ۱۹۱۹ م کال کې اعلان وکړ چې "الهي کومیدي" د عربي کتابونو څخه په تقلید کې لیکل شوی، د محمد ص د معراج او په تیره بیا د معري له کتاب" د بخښنې لیک" او د ابن عربي "مکي فتوحاتو" پر مټ لیکل شوې ده.

دانتي په دې کتاب کې د تصادف له مخې د روماني واکمنۍ څخه د ایټالې ټول شخصیتونه او ادیبان او شاعران نه راخلي، معري په خپل کتاب "د بخښنې لیک" کې د ټولو جاهلي او اسلامي شاعرانو نومونه او هڅې راخیستي دي، نو لیکوال بې له شکه چې په خپله لیکنه کې د معري په لاره پل ایښی دی، که څه هم یې په جلا سبک لیکلی دی، د فردوس او جهنم په اړه یې مسیحي فکر ورځای کړی دی، خو معري بیا د کتاب غوښنه برخه او مرکزي خیال اسلامي فکر گرځولی. دا خو څرگنده وه چې عربي فرهنگ او ثقافت د میلاد په دولسمه پېړۍ کې د ایټالې په جنوب کې وده کړې وه، او طبیعي ده چې عربي ادب او ثقافت به په دغه سیمه کې لاس په لاس خپور و.ابو علاء المعري خپل کتاب" د بخښنې لیک" د معراج د پېښې نه په الهام لیکلی دی او دا مسلمه خبره ده.

او د "دیکامیرون" لیکوال، ایيالوي جوفاني بوکاتشو په خپل کتاب کې د " زر او یوه شپه" سبک غوره کړی دی، خپلې کیسې یې د دغه عربي مجهول لیکوال په سبک لیکلی دی، او دا کوم تصادف نه شي کېدلی بلکې ایټالوي لیکوال به هرومرو " زر او یوه شپه" لوستلې وي، ځکه چې " زر او یوه شپه" په نړیوال ادب کې لرغونی او مشهور کتاب دی چې د نړۍ ډېرو ژبو ته ژباړل شوی دی.

روسي مشهور شاعر پوشکین هم خپلې نهه قصیدې مستقیما له قران کریم څخه په الهام اخیستي دي، ډاکټره استاذه مکارم الغمري وایي" پوشکین دغه نهه قصېدې نېغ په نیغه له قران کریم او تفسیر څخه په الهام لیکلي دي، د بېلگې په توگه، پنځمه قصیده یې د لقمان سورت څخه، شپږمه یې د الفتح سورت څخه او نهمه یې د البقرې له سورت څخه په الهام لیکلې ده، همدا وه چې کله په ۱۸۸۰م کال لوی روسي لیکوال دوستیفسکي د پوشکین د نوښتونو په اړه خبرې کولې نو ویې ویل: " کله چې د پوشکین "قراني اقتباسات " لولو نو احساسو چې کوم مسلمان شاعر لیکلي دي، ځکه چې موږ په کې د قران عظمت، روحانیت، پر باطل د حق بریا او د ایمان قوت احساسوو.

بې له شکه چې لویو لیکوالانو او شاعرانو له مقدسو کتابونو څخه په الهام مشهور مولفات پنځولي دي، چې څوک یې ادبي غلا بولي او څوک یې تاثر او الهام بولي، کله ناکله یې په شعوري او یا هم لا شعوري توگه هڅه کړې چې د مقدسو کتابونو څخه ځینې مشهورې کیسې، پېښې، انځورونه، او حتی نومونه راواخلي، په داسې بڼه چې عادي لوستوال پرې نه پوهېږي، دا به د دوی مهارت وي، ځکه چې لویان لوی کارونه کوي، په معاصر پښتو ادب کې هم ځینې لیکولان لرو چې له قران کریم څخه یې الهام یا تاثر او یاهم ادبي سرقت کړی دی.

که څه هم قران کریم کوم ادبي کتاب نه دی، خو د خپل وخت سره سم یې عربي ادب چلنج کړ او غږ یې پرې وکړ چې د قرآن کریم په څېر یو سورت راوړئ، خو هغوی د دومره فصاحت او بلاغت سره بیا هم ونه شو کولی چې د قرآن کریم په څېر یو سورت راوړي، بیا یې د یو ایت چلنج ورکړ، بیا هم په دې ۱۴۰۰ کلونو کې څوک پیدا نه شول چې د قران کریم په څیر یو آیت راوړي.

په معاصر وخت کې د پښتو ژبې پیاوړی لیکوال سعدالدین شپون هم دا کار کړی دی، شپون صیب د خپل ناول "د سمڅې یاران" نوم له قران کریم څخه اقتباس کړی دی، په قران کریم کې د "اصحاب الکهف" په نامه یوه کیسه را غلې چې معنی یې کټ مټ همدا " د سمڅې یاران" ده، په دې ناول کې کریکټرونه کله درې، کله پنځه او کله ډېر شي، په قرآن کریم کې د اصحاب کهفو په اړه صراحت شوی دی، چې ځینې وایي درې دي، څلورم یې سپی دی، ځینې وایي پنځه دي شپږم یې سپی دی...

د اصحاب کهفو په کیسه کې د یو سپي یادونه شوې چې له هغوی څخه نه جلا کیږي، همدارنگه د شپون صیب په ناول کې هم د سپي یادونه شوې، که څه هم یې په ناول کې رول تصنعي ښکاري، اصحاب کهف له ظالم پاچا څخه یوې سمڅې ته تښتیدلي او هلته یې پناه اخیستي څو یې له ظلم نه وژغورل شي، په ناول کې د روسانو له ظلم څخه خلکو سمڅې ویستلي او په هغې کې ژوند کوي، نو په ټول باور ویلی شم دا تصادف نه شي کېدلی، بلکې په لاسي توگه دا کار ترسره شوی دی، که څه هم د شپون صیب په ناولونو کې ماته د سمڅې ناول جلا خوند راکوي.

د مقالې پای

# د پښتنو او پښتو ژبې په اړه ...

وویل چې د دېو په باره کې په ځانگړې ډول څه نه دي ویل شوي، دېو افسانوي موجود دی او حقیقي وجود نه لري.

کله چې د یوه ولس، یوه ملت یا یوې بشري ټولنې د ژبې نسبت یوه داسې خیالي او افسانوي موجود ته وشي چې شتوالی یې دیني او معاصر علوم نه مني نو دا د یوه کاذب روایت او دروغجنې افسانې څخه بل څه شی کېدای شي؟! تجربو ښودلې ده چې انساني ژبه په بشري ټولنو کې منځته راځي او شتوالی یې د انساني ټولنې څخه د باندې د امکان څخه لرې خبره ده. کله چې دېوان او دېواني ټولنه وجود نه لري، نو څنگه امکان لري چې دېوان دې یوه ژبه ولري او هغه دې پښتو ژبه ونومول شي. څرنگه چې د دې شرمونکي روایت پلویان او ډنډورچیان په داسې اپلتو نه شرمېږي، نو سړی په زغرده ویلای شي چې دوی اصلاً څېړونکي نه دي.

یو شمېر کسانو پښتو ژبه د فارسي ژبې گړدود بللی دی. که په دې باره کې لږ غور وکړو دا هم یوه بې اساسه خبره ده، ځکه چې که پښتو ژبه د فارسي ژبې یو گړدود وای؛ نو باید چې په پښتو ژبه کې شته گړدودونه، گړدودیز توپیرونه، د گړدودونو د شمېر ډېروالی او لږوالی او گرامري ځانگړنې یې د فارسي ژبې غوندې وای او توپیرونه په کې نه وای. پښتو او فارسي دواړه گاونډۍ ژبې دي د مختلفو وجوهاتو په سبب به یې متقابلې اغېزې منلې وي، خو یوه د بلې گړدود نه دی.

لکه څنگه چې د پښتو ژبې د سامیتوب او عبرانیتوب نظریه ختیځ پېژندونکو او ژبپوهانو په علمي دلایلو سره مردوده گڼلې ده په همدې ډول یې دا نظریه چې پښتو ژبه د فارسي ژبې یو گړدود دی، بې اساسه او غیر علمي بللې ده. یو ختیځ پېژندونکی، ژبپوه او پښتو څېړونکی چې کلاپروت نومېږي په دې اړه خپل نظر داسې وړاندې کوي: پښتو ژبه ځینو خلکو سامي بللې ده، خو زما په نظر دا خبره سمه نه ده، ځکه چې پښتو ژبه یوه خالصه هند- ارین ژبه ده. دغه ژبه د الفاظو، لغاتو او گرامر له مخې د سامي ژبو سره کومه اړیکه نه لري. همدې یوه او ختیځ پېژندونکي هغه نظریه چې په هغې کې پښتو ژبه د فارسي یوه لهجه بلل شوې ده رد کړې او هغه یې غلطه نظریه بللې ده.

دا یوه څرگنده خبره ده چې د علمي څېړنو دوام په اصل کې د یوې مسئلې د سپیناوي او پېژندنې عمده دلیل او اساس دی. د یوې موضوع پایلې هغه وخت د منلو ډگر ته راوځي او خپل اصلي مسیر پیدا کوي چې نوموړي موضوع د هغې اهمیت ته په کتو سره د ډېرو پوهانو له خوا وڅېړل شي.

دا چې پښتو ژبه په ایرانۍ څانگه(اریایي څانگه)) او که په هندي څانگه پورې اړه لري، یوه وتلي ختیځ پوه، ژبپوهاند او پښتو څېړونکي دوکتور ارنست ترومپ په دې اړوند ویلي دي چې: پښتو د اریایي ژبو یوه مستقله څانگه ده چې نه په ایراني او نه په هندي څانگو گډېږي.

د پښتو ژبې په مورد کې د ترومپ نظر سړي ته بل ډول ذهنیت ورکوي. که چېرې پښتو ژبه د اریایي ژبو له منځه یوه بېله څانگه وي، نو بیا خو د اندو اروپایي ژبو په منځ کې پښتو ژبه هم د یوناني ژبې غوندې درېځ خپلوي، خو د دواړو ترمنځ توپیر دا دی، چې یوناني ژبې خپل ډېر توکي او عناصر نورو ژبو ته ورکړي دي، خو پښتو ژبې ډېرې لوړې ژورې لیدلې، ډېر تاړاکونه پرې تېر شوي او ډېر اسناد او ژبني اثار یې ترې تم شوي دي. په هر صورت د پښتو ژبې په برخه کې د ترومپ نظر د ډېرې گټورې څېړنې اساس گڼل کېدای شي.

که څه هم ډېرو روایتونو چې لیکلې بڼه یې خپله کړې ده پښتانه عرب، اسرائیل، ترکان او نور بللي دي او د دوی ژبه یې یوه مخلوطه ژبه گڼلې ده، خو علمي څېړنو دې روایتي خبرو اترو ته د پای ټکی ایښی دی او داېې زباته کړې ده چې پښتو یوه لرغونې اریایي ژبه ده او پښتانه د اصل څخه اریایان دي. دا چې پښتو ژبه اریایي ژبه ده او که نه په دې ارتباط ستر فېلالوجیست او ختیځ پېژندونکي گریرسن چې په هندي ژبو باندې یې د Linguistic survey of India په نوم پنډ کتاب لیکلی دی، د پښتو ژبې په برخه کې د خپل اثر په لسم ټوک کې داسې ویلي دي: پخوا خلکو پښتو ژبه د عبراني د ریښې نه گڼله، لیکن اوس پوره ثابته شوه چې دغه ژبه یوه خالصه سپینه سپېڅلې اریایي ژبه ده

زما په خیال که چېرې یو څوک د پښتنو او پښتو ژبې په باره کې د روایتونو او افسانو راټولولو ته ملا وتړي له شک پرته یو پنډ کتاب ورباندې لیکل کېدای شي. موږ د موضوع د بې موجبه اوږدوالي د مخنیوي په خاطر د هغوی هسې نمونهیې یادونه وکړه، د دوی د ردولو لپاره مو خپلې څو کرښې او د پښتو څېړونکو نظرونه هم په دې لیکنه کې ځای پر ځای کړل، هیله ده چې گرانو لوستونکو ته به د پښتنو او پښتو ژبې د مقام، ځای ځایگي او اصلیت پته ترې ولگېږي.

مأخذونه

۱ـ پوهاند حبیب الله تږی، پښتانه، دانش کتابتون چاپخونه، پېښور، ۱۹۹۹ز کال، لومړی مخ.
۲ـ پورتنی اثر، ۲یم مخ.
۳ـ پورتنی اثر، ۳یم مخ.
۴ـ پورتنی اثر، یوولسم مخ.
۵ـ د عمید فارسي فرهنگ، د امیر کبیر د خپرونو موسسه، تهران، ۱۳۸۳کال، ٦۲۷ مخ.
٦ـ عبدالرحیم رحیم، په خارج کې پښتو څېړونکي، پښتو ټولنه، دولتي مطبعه، ۱۳۵۳کال، ۲- ۳مخونه
۷ـ صدیق الله رښتین، د پښتو ادب تاریخ، دویم چاپ، ۱۳۷۷کال، څلورم مخ.
۸ـ په خارج کې پښتو څېړونکي، څلورم مخ.

د مقالې پای

# د قلم لیک

دکتور سیداصغر هاشمي

یوه لویشت یم، خو لوی لوی کارونه کوم. زما په خوله کې قوت پروت دی.

د نړۍ انسانانو ته تبلیغ کوم. زما په رنگ کې ډېر زور دی او دا زور د هغو دی، چې خپل افکار زما په وسیله لېږدوي. زما رنگ پرمختللیو ټولنو کې نوي رنگونه راوړي، خو وروسته پاتې هېوادونه چې د لیک او لوست سره مینه نه لري، زما له رنگ څخه گټه نه اخلي، نو ځکه په یو حال پاتې دي او یا ورځ تر بلې وروسته تگ کې دي. نوښت، اختراعات او کشفیات زما په وسیله له یو نسل بل نسل ته په لیکلي ډول پاتې شوي دي.

د نړۍ قلمي نسخو ته زما رنگ ژبه ورکړې ده. د پخوانیو خلکو افکار، دود، پرمختگ، پوهه او د داسې نورو معلوماتو وړاندې کول زما په وسیله ترسره کېږي. له ما (قلم) او کتاب سره مینه د دې لامل کېږي، چې پرمختگ منځ ته راشي.

کله کله زما له رنگ څخه ناوړه گټه اخېستل کېږي. بدې خوړونکې پرې بدې اخلي، ظالم قاضي پرې نا حقه پرېکړې کوي، ډاکټران پرې تاریخ تېرې درمل لیکي، ښوونکي پرې ازموینه کې سمه پرېکړه نه کوي او داسې نور په لسگونو تیرې؛ خو څه وکړم! زما د کارولو واک له انسانانو سره دی، د یوې خبرې یادونه اړینه ده، چې هر مامور، قاضي، ډاکټر او ښوونکی له ما څخه ناوړه گټه نه اخلي.

کله چې زما له رنگ څخه ناوړه گټه اخېستل کېږي، ژاړم، خو څوک مې فریاد نه اوري. دوی تیرې کوي او ما د یوې وسیلې په ډول کاروي.

کله کله زما رنگ ځینې کسان خرڅوي او د پاک رنگ څخه مې ناوړه کار اخلي او چاپلوسي کوي.

له ما څخه ښه او ناوړه گټه اخېستنه د انسانانو کار دی. که انسانان ښه وي، نو له ما څخه به سمه گټه واخلي او که انسانانو کې ستونزه وي، نو له ما څخه به ناوړه گټه اخلي.

زه له ډېرو خلکو خپه یم، ځکه چې زما په رنگ یې سترگې نه لړېږي. له ما سره د دوستۍ پر ځای دښمنې کوي، سره له دې چې زه له هر چا سره دوستي کوم او هېچاته زیان نه رسوم.

زما رنگ نه وچېږي. څومره چې له ما گټه اخلئ، په هماغه اندازه تازه کېږم، خو که کار را څخه وانه خیستل شي، وچېږم.

په علومو کې د پرمختگ لامل زه یم. لویو پوهانو تر ډېره ته توان او شهرت زما رنگ ورکړی. د هغوی رنگ ته روڼتیا ما ورکړې ده.

د نړۍ د لویو شاعرانو شعرونه زما په رنگ لیکل شوي دي. ډېرې ښې څېړنې او پنځونې زما د رنگونو رنگارنگي ده. اسماني کتابونه زما په رنگ ولیکل شول، د نړۍ نامتو کتابونه زما په رنگ لیکل شوي. زما رنگ تور دی، خو کارونه سپین کوم، د لیکنې پیغام مې انسانانو ته دی. شپه هم توره ده، خو د دمې لپاره خورا ښه وخت دی.

سپوږمۍ په تیاره کې پیدا کېږي او رنگ په ارواپوهنه کې تور ښه او غوره رنگ دی. اقتصاد، سیاست، ښوونه او روزنه او نورو پوهنو ته پرمختگ زما په وسیله ورکړل شوی دی. ښه اقتصاد هغه ملکونه لري، چې زما د رنگ په قدر پوهېدل او سیاسي ثبات هلته دی، چېرته چې زما په رنگ لیکل وشول، د هغو ټولنو خلک د اسلامیت او انسانیت پرگانه لا ښه سمبال دي، چې زما په رنگ ډک سپین مخونه یې ډېر لوستي دي.

د مقالې پای

# زېرى

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيز او ادبي پنځلس ورځنۍ جريده

د افغانستان د علومو اکاډمي

د ژبو او ادبياتو مرکز څېړنيز ارګان

**مسئول مدير:** څېړندوی لطف الله صابر

**مهتممه:** بي بي شفيقه نوري

**کتنپلاوی:** څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی لطف الله صابر، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

**د اړيکي شمېره:** (+۹۳)۷۷۷۴۲۴۳۴۰

**برېښناليک:** zerai۱۳۱٦@gmail.com

● په زېري جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، زنبق څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

**د يوې ګڼې بيه:** پنځه افغانۍ

**د ۱۴۰۱ ل.کال، د غبرګولي مياشتې ۵-٦مه ګڼه | پرله پسې ۳۹۷-۳۹۸مه ګڼه**



✍ څېړنوال محمد آصف احمدزی


## د فرهنګي او ادبي خبرونو پېښليک

### «اسرار الافغان» پښتو ته وژباړل شو

د پښتنو د تاريخ مهم اثر »اسرار الافغان «پښتو ژباړه د استاد محمد اصف صميم له خوا بشپړه شوې او نږدې راتلونکي کې به چاپ شي.

دغه کتاب چې له ننه ۴۳۱ کاله پخوا ليکل شوی دی، په اوومې، اتمې، نهمې او لسمې هجري قمري پېړيو کې د پښتنو لومړنی عرفاني، اجتماعي، ادبي او سياسي نهضت په دري ژبه بيانوي.

دا کتاب ۴۱۵ مخه لري چې د پښتنو د تاريخ د يادو شويو پېړيو ګڼ تياره ګوټونه په کې روښانه شوي دي.

د کتاب ليکوال حسين بن صابر بن خضرسنزی حسيني دی چې د استاد څېړنوال حبيب‌الله رفيع په سريزه، مقابلې، ايډيټ، تعليقاتو او زيار سره په تېر ۱۴۰۰ لمريز کال کې چاپ شو.

ياد شوی کتاب اوس کره کتونکي او ليکوال استاد محمداصف صميم پښتو ته ژباړلی دی.

### لوګر کې سنځل ګل دوديزه مشاعره وشوه

په لوګر کې د سنځل ګل شپاړسمه دوديزه مشاعره د غبرګولي په ۴مه جوړه شوه چې د دغه ولايت په ګډون د پکتيا، پکتيکا، خوست او ميدان وردګو ولايتونو شاعرانو، فرهنګيانو، د شعر مينه‌والو او چارواکو هم په کې ګډون کړی وو.

لوګر کې هر کال د سنځل ګل دوديزه مشاعره او مېله د سنځلې ګل له غوړېدلو سره سمه جوړېږي چې د هېواد له ډېرو ولايتونو څخه په کې شاعران او فرهنګيان ګډون کوي.

### انارګل مشاعره ترسره شوه

د غبرګولي په ۵مه د پنجشنبې په ماښام کندهار د هېواد له ګوټ ګوټ څخه د هغو شاعرانو او اديبانو کوربه وو، چې انارګل مشاعرې ته يې ځانګړی خوند او رنګ ورکړی وو.

انارګل دوديزه کلنۍ مشاعره د کندهار په عينو مېنه کې جوړه شوه چې د کندهار د شاعرانو تر څنګ د هلمند، زابل، اروزګان، خوست، ننګرهار، پکتيا، پکتيکا، کابل، کونړ او څو نورو ولايتونو شاعرانو، سلګونو د شعر او ادب مينه‌والو، اديبانو او ليکوالانو برخه په کې اخيستې وه.

مشاعرې ته د شاعرانو او ليکوالانو تر څنګ د کندهار او مرکز لوړپوړي مسئولين هم ورغلي وو، کندهار والي حاجي محمديوسف وفا، مرستيال والي حيات الله مبارک، د اطلاعات او کلتور رئيس مولوي نور احمد سعيد، مرستيال ئې ملا شمس الله صميم، د اطلاعات او کلتور وزارت د ترنم د برخې رئيس مل غني خېل، د ملي راډيو ټلويزيون د نشراتو مسئول مسعود حقمل، د پکتيا ملي تلويزيون رئيس مولوي احمد خالد، د کندهار د بېلا بېلو رياستونو رئيسان او يو شمېر نور مسئولين هم د مشاعرې ګډون وال وو.

### د فرهنګي او ادبي بنسټونو ملي ناسته

د کابل ښار په باغ بابر کې »د فرهنګي او ادبي بنسټونو ملي ناستې «تر عنوان لاندې غونډه د غبرګولي په پنځمه تر سره شوه چې په کې د افغانستان د ۳۴ ولايتونو او له بهر څخه يو شمېر وتلو فرهنګپالو، اديبانو او د اسلامي امارت غړو برخه اخيستې وه.

په ياده غونډه کې ګډونوالو د ادب او فرهنګ پر ارزښت خبرې وکړې او زياته يې کړه چې ادب او فرهنګ د يو ملت ژبه، عزت او پېژندنه ده.په ياده غونډه کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت معين مولوی سعد الدين سعيد د غونډې ګډونوالو ته وويل، په افغانستان کې ټول قومونه يو دي، وطن مو يو دی، فرهنګ مو يو دی او بايد په ګډه د فرهنګ د تخريب مخه ونيسو.

### د افغانستان ادبي - فرهنګي بنسټونو د ملي ناستې پرېکړه ليک

نن د ۱۴۰۱ کال د غبرګولي په ۵مه، د افغانستان له ۳۴ ولايتونو څخه له ۳۰۰ ډېر هنرمندان او فرهنګيان د کابل په تاريخي بابر بڼ کې راغوند شوي ترڅو د هنري او فرهنګي فعاليتونو په وړاندې د ننګونو او دغه راز د شته فرصتونو په اړه بحث او خبرې اترې وکړي.

دغه ناسته د هېواد د ادبي او فرهنګي بنسټونو او ليکوالو او فرهنګيالنو ترمنځ د اړيکو د ټينګښت په منظور د افغانستان د خلکو غړ پروګرام له خوا جوړه شوې وه او غوښتل يې مسئولو چارواکو ته د ټولو افغانانو غږ ورسوي.د ناستې په څنډه کې د کتابونو او د افغانستان له ګوټ ګوټ څخه د بېلا بېلو هنري آثارو او غالۍ ډيزاينونو نندارتون هم جوړ شوی و.

### د منې ګل مشاعره ونمانځل شوه

په ميدان وردګو ولايت کې د منې ګل کلنۍ دوديزه مشاعره په خورا لوړ نوښت ترسره شوه چې د شعر او شاعرۍ په سلګونو مينه والو په کې ګډون کړی و. ياده مشاعره چې د دغه ولايت د جلرېز ولسوالۍ په سنګلاخ سياحتي سيمه کې د غبرګولي په ۵مه جوړه وه، د هېواد له ګوټ ګوټه په سلګونو نوموتو شاعرانو، فرهنګيانو، چارواکو او د ادب مينه‌والو په کې برخه اخيستې وه، دوی د طبعيت د ښکلا تر څنګ د روانو حالاتو په اړه ګډونوالو ته شعرونه واورول.

په ياده مشاعره کې د ولايت والي حافظ محمد امين جان عمري ترڅنګ د اداره امور مرستيال شيخ نورالحق انور، د لوړو زده کړو وزارت معين لطف الله خيرخواه، د اطلاعاتو او کلتور وزارت فرهنګي معين مولوي عتيق الله عزيزي، د حکومت د وياند مرستيال بلال کريمي، د ملي راډيو تلويزيون لوی رئيس مولوي احمدالله وثيق او د مولوي احمد الله متقي په مشرۍ د ارګ له دفتر څخه راغلي پلاوي ګډون درلود.

### د (مطالعې دود کول) په نوم سيمينار جوړ شو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لوري په هېواد کې د مطالعې فرهنګ د پياوړي کولو په موخه د ياد وزارت د غونډو په نړيوال تالار کې د (مطالعې دود کول) تر عنوان لاندې يو ورځنی سيمينار جوړ شو.

دغه سيمينار چې د ياد وزارت د فرهنګ او هنر معينيت اړوند د عامه کتابتونو د يوې ورځې لپاره د غبرګولي په ۹مه جوړ کړی و، ګډونوالو ته يې د مطالعې په اړه هر اړخيز معلومات وړاندې کړل.

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د فرهنګ او هنر معين مولوي عتيق الله عزيزي د سيمينار برخه‌والو ته د کتاب د ارزښت په اړه خبرې وکړې او ويې ويل چې کتاب د نړۍ د پرمختګ يواځينی عامل دی او بشر د مطالعې په مرسته د کمال لوړو درجو ته رسوي.

د عامه کتابتونو رئيس قاري عبيدالله حنيف له خلکو غوښتنه وکړه چې د ورځنيو کارونو تر څنګ دې مطالعه هم له ياده نه باسي.

### بغلان کې »د ختکي ګل «په نوم مشاعره وشوه

د بغلان ولايت د أطلاعاتو او فرهنګ رياست له لوري د دغه ولايت په مرکز پلخمري کې د ختکي ګل تر سرليک لاندې لومړنۍ مشاعره وشوه. دا مشاعره په بغلان پوهنتون کې د غبرګولي په ۱۰مه جوړه شوې وه چې د لسګونو شاعرانو تر څنګ په کې د پوهنتون استادانو او سلګونو محصلينو ګډون کړی وو.

### د کونړ سيند کلنۍ مشاعره وشوه

د کونړ په مرکز اسعد اباد کې د کونړ سيند کلنۍ مشاعره د غبرګولي په ۱۲مه ترسره شوه چې پر حکومتي چارواکو سربېره د هېواد له بېلا بېلو ولايتونو څخه راغلو شاعرانو، اديبانو او ليکوالانو په کې ګډون کړی وو.شاعرانو په خپلو شعرونو کې د وطن د ابادۍ، يووالي، سولې او کونړ سيند د ارزښت په تړاو پيغامونه ورکړل.

### خپل وطنه، ګل وطنه! مشاعره

د افغانستان ملي تحريک او ژوندون تلويزيون په بلنه او همکارۍ د ژوندون تلويزيون په انګړ کې د »خپل وطنه، ګل وطنه! «تر عنوان لاندې په زړه پورې مهالنۍ مشاعره د غبرګولي په ۱۴مه وشوه.

په دې مشاعره کې د هېواد ګڼ شمېر شاعرانو او فرهنګيانو برخه اخيستې وه، چې خپل شعرونه يې ګډونوالو ته واورول.

### په خوست کې د «محصل »په نوم مشاعره جوړه شوه

د خوست شيخ زأيد پوهنتون د محصلينو له لوري په لومړي ځل په دې پوهنتون کې د »محصل« په نوم علمي او ادبي مشاعره د غبرګولي په ۱۷مه جوړه شوه، چې د پوهنتون د استادانو او محصلينو ترڅنګ د سيمې شاعرانو هم په کې ګډون درلود.

د ياد پوهنتون محصلين په ځانګړې ډول د مشاعرې جوړوونکي وايي، د يادې مشاعرې هدف په ذکر شوي اکاډميک ماحول کې د محصلينو ترمنځ يووالی او هغوی ته يو فکر ورکول دي.

مشاعرې ته راغلو شاعرانو او د ادب مينه‌والو په حماسي او عشقي برخو کې خپل شعرونه واورول او ځينو يې په کې ترنمونه وکړل.

### کابل کې د هنري اثارو ګټونکو ته جايزې ورکړل شوې

د افغانستان هنر شبکې له خوا په کابل کې د بېلا بېلو هنرمندانو د هنري اثارو تر ارزونې وروسته د غبرګولي په ۱۸مه څو تنو ته هنري جايزې ورکړې.

د يادې شبکې مسئول رفيع بيان په دې اړه جوړ شوي محفل کې وويل چې د افغانستان هنر شبکې د هنري اثارو په اړه سيالي اعلان کړې وه چې په څو اونيو کې څه باندې پنځوس هنري اثار راټول شوي وو چې په دې اثارو کې ډېری يې د کابل، کندهار، ننګرهار او باميانو څخه وو.

د افغانستان هنر شبکه له تېرو څو مياشتو راهيسې د هنر او هنري فعاليتونو د ودې په منظور ايجاد شوې ده.

### د هلمند سيند کلنۍ مشاعره

د هلمند د مرکز لښکرګاه ښار په غازي محمد ايوب خان مېنه کې د هلمند سيند کلنۍ مشاعره د غبرګولي په ۱۹مه جوړه شوه.

په دې مشاعره کې د هلمند مرستيال والي حاجي مبارک، د استخباراتو رئيس ابوخالد، د فراه والي روحاني، د هلمند د اطلاعاتو او فرهنګ رئيس حافظ عبدالباري راشد، د رئيس الوزراء د لوی دفتر معاون د عامه او ستراتيژيکو اړيکو مسئول مولوي احمدالله متقي، د ارګ د مطبوعاتو رئيس ملا محمد نسيم هلال، مشهور نعت‌خوان فقيرمحمد درويش، د مختلفو ادارو رئيسانو/ استازو او شاعرانو په ګډون د مختلفو ولايتونو شاعرانو، ليکوالانو، فرهنګپالانو، نعت ويونکو تر څنګ د څو ولايتونو د اطلاعاتو او فرهنګ رئيسانو/ استازو او ميلمنو ګډون درلود.

په ياده مشاعره کې له ويناوالو او د مسئولينو تر خبرو وروسته د شعر او ترنم برخه پيل شوه.

شاعرانو او نعت ويونکو په دې مشاعره کې د نعتونو، حمدونو او حماسي شعرونو ترڅنګ عشقي او طنزيه شعرونه هم ولوستل.

### ځاځي اريوب کې پسرلنۍ مشاعره

د پکتيا د ځاځي اريوب ولسوالۍ په سپينه شګه کې د زرغون اريوب په نوم پسرلنۍ مشاعره د غبرګولي په ۲۰مه وشوه.په ياده مشاعره کې له کابل څخه ورغلي د ټرانسپورټ وزارت سلاکار مولوی مفتي عبدالله روقياني، فرهنګيانو، ليکوالانو، ځوانانو او د رسنيو يو شمېر کارکوونکو هم ګډون درلود.

### کابل پوهنتون کې «پښتو ادبي جرګه» فعاليت پيل کړ

د کابل پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي په پښتو څانګه کې د »پښتو ادبي جرګه «په نوم د مشاعرې او کره کتنې لړۍ د ۱۴۰۱هـ. ش کال د غبرګولي په ۸مه پيل شوه.

دا ادبي جرګه دوې برخې لري؛ لومړۍ برخه کې د يوه محصل پر پنځونې (هغه که منظومه وي يا منثوره) کره‌کتنه کېږي، استادان او محصلين خپل نظرونه وړاندې کوي. دوهمه برخه مشاعرې ته ځانګړې شوې ده، په دې برخه کې محصلين خپل يا د نورو شعرونه وايي.

### د عناب ګل ۱٦مه کلنۍ مشاعره وشوه

د فراه ولايت په مرکز کې د غبرګولي په ۲۳مه د عناب ګل شپاړسمه کلنۍ مشاعره وشوه.

په ياده مشاعره کې پر کندهار، هلمند، نيمروز او نورو ولايتونو سربېره د بلوچستان له مرکز کويټې څخه هم شاعرانو ګډون کړی و.د فراه د اطلاعاتو او کلتور رئيس مولوي عبدالحی سباوون وايي چې د ولايت په کچه به د شاعرانو ټولنه هم جوړه کړي.

### د پښتو وتلی ليکوال او د ولسي ادب استاد سيال کاکړ مړ شو

پس له مرګه به خاوند د لوی نامه سم
پښتانه به په ژړا وي زه به نه يم
«سيال کاکړ»

پوهاند ولي محمد خان چې په سيال کاکړ مشهور و، په کوټه ښار کې د ۸۷ کلونو په عمر د ۱۴۰۱هـ. ش کال د غبرګولي په ۲۸مه (د ۲۰۲۲م کال د جون په ۱۸مه) د شپې په يوه بجه مړ شو او په خپله پلرنۍ هديره کې خاورو ته وسپارل شو.

نوموړی له څو کلونو راهيسې ناروغ و.

پوهاند ولي محمد خان په ۱۹۳۵م کال د سوېلي پښتونخوا د پښين په سرانانو کې زېږېدلی دی. لومړنۍ زده کړې يې په خپل کلي او پښين کې ترسره کړې او وروسته يې پارسي، پښتو او اردو ژبو کې د ماسترۍ تر کچې لوړې زده کړې کړې دي.

پوهاند ولي محمد خان پر پښتو سربېره پارسي، اردو، براهوي، انګرېزي او پنجابي ژبې هم زده وې.

نوموړي ولسي پښتو ادبياتو ته بې سارې خدمت کړی دی.

سيال کاکړ له ژوبه تر بوري او دغه ډول له سيوۍ تر کندهار د ولسي ادبياتو ورکه شاعري را ټوله کړې او خپلو اثارو کې يې د تل لپاره خوندي کړې ده.

### تازه چاپ شوي آثار

د متنپوهنې اصطلاحات: د پوهنمل مطيع الله روهيال اثر دی چې صداقت کتابپلورنځي خپور کړی دی.

د ژوند لويه سزا ژوند دی (ناول): د عبدالقادر مجرم

نثرم: شعريات او نړيواله ارتقاء: د افتاب ګلبڼ

## ژبپوهنيزه عصب پوهنه

**ژباړن: څېړندوی لطف الله صابر**

د پاتې برخې په دوام:

د سيمه ييز وېش (Localism) تعبير په دې معنا دی چې د هر فعاليت له پاره ځانګړی مرکز نشته خو له يو او بل سره د تړليو مختلفو هممهالو پايلو کړنې د عصبي دستګاه ګڼ شمېر سيمې ګڼل کېږي.

د ژبې او مغز د اړيکو په برخه کې وروستۍ نظريه، تکويني (Evolutionary) نظريه ده چې په دې اړه د يوې نوې نظريې په توګه مطرح شوې ده. د دې نظريې پر بنسټ ژبنی اختلال چې د مغزي زيان له کبله رامنځته شوی وي، لکه په مغز کې په بېلابېلو سطحو او مختلفو عمرونو کې د ژبې زده کول، توپير لري او د يو شمېر دلايلو (عمر او د زده کړې له شرايطو) ... سره تړاوو لري. نيلي پور (۱۳۸۲) د چامسکي «نحوي موډل» او د ليکاف « ادراکي موډل» نظريو ته هم اشاره کوي.

### د ژبپوهنيزې عصب پوهنې مطالعاتي بهير ته کتنه

که څه هم د ژبپوهنيزې عصب پوهنې د اصطلاح کارولو څو لسيزې کېږي، خو بيا هم انسان د ژوند له لومړيو څخه په مغز کې د زيان او ورپسې په خبرو او اورېدلو کې د اختلال او ګډوډۍ له رامنځته کېدلو وروسته، د مغز او ژبې تر منځ د اړيکو پېژندلو او د ژبنيو اختلالاتو د درملنې په لټه کې دی. که څه هم په هره دوره کې د مغز او ژبې د اړيکو پر بنسټ تعريفونه وړاندې شوي دي، په دې برخه کې ترسره شوې څېړنې او ترلاسه شوې پايلې او لاسته راوړنې هم توپير سره لري.

د بېلګې په توګه، کله به ژبه روحي - رواني پديده ګڼل کېدله او کله هم د يوه غړي د فعاليت په توګه چې په خوله کې ده مسئوله ګڼل کېدله. نويو برداشتونو هم ژبه د حسي - خوځښتي فعاليتونو مجموعه ګڼلې ده چې مسئوليت يې د مغز په حسي او خوځښتي ساحو پورې محدود و. اوسني برداشتونه هم ژبه د يوه پېچلي څو بُعدي ادارکي فعاليت په توګه پېژني چې نه يوازې د مغزي فعاليتونو له بېلابېلو سطحو سره اړيکې لري بلکې، د مغز په جوړښت او کړنچاره کې هم اغېزمن رول لري (نيلي پور، ۱۳۸۲: ۴۵). د موجودو تاريخي شواهدو پر بنسټ، د ژبې عصب پوهنې سپړنيزه موضوع (د ژبې او مغز اړيکې) او په کُلي توګه د مطالعې وړ نيوروسايکولوژي Neuropsychology (د ذهن او مغز د اړيکو عملي جريان) د موضوع لرغونتيا د بشريت تاريخ ته رسېږي. انسان له پخوا زمانو څخه په دې لټه کې دی، تر څو انساني چلندونه له هغه څه سره پرتله کړي چې په مغز کې رامنځته کېږي، خو د مغز پېچلي جوړښت او دې حقيقت ته په کتلو سره چې د ژوندي انسان د مغز څېړل او مطالعه کول ډېر کم د لاسرسي وړ دی، نو څکه تر شلمې پېړۍ پورې څېړونکو په کره او دقيقه توګه د انسان د مغز د کړنو په اړه اطلاعات او معلومات نه وو ترلاسه کړي. له همدې امله د ژبې د عصب پوهنې او نيوروسايکولوژي د علومو د پرمختګ او دقيقې پوهې له مخې پخوانۍ څېړنې او تجربې په اجمالي توګه تر څېړنې او پلټنې لاندې نيول کېږي.

### ۱. د ژبې او مغز د اړيکو په اړه د څېړنو پيل

تر ټولو پخواني شواهد چې د انسان پام يې د مغز د کړنو څرنګوالي ته واړاوه، د لرغونې دورې ليکلي راپاتې شوي آثار دي. په هند کې په يوه درسي طبي کتاب (سامهيتا / Samhita) کې چې د تدوين لرغونتيا يې ۲۰۰۰ مخکې له ميلاد کالونو ته رسېږي، د وينا او خبرو د هغو اختلالاتو (ګډوډيو) په هکله چې د عصبي سيستم ضايعاتو پورې اړه لري مطالب خپاره شوي دي (نيلي پور، ۱۳۸۲ د فينګر په قول).

په (حمورابي) دوران پورې اړوند يوه لوحه کې راغلي دي چې مغز د انسان د بدن د کړنو اصلي مرکز دی. په يوه بله لرغونې ليکنه کې چې د (پاپيروس) پر مخ ليکل شوې او د (نيل) په څنډو کې کشف شوې ده، له ميلاد څخه ۲۷ کاله مخکې مخينه لري، داسې مطالب پکې وړاندې شوي دي چې د ايمهوتپ (Imhotep) په نامه ناروغۍ په اړه د لرغونو مصريانو پوهه اثباتوي. همدا ناروغي چې د همدې لوحې د ليکونکي په نوم ثبت شوې ده، اوسمهال د »آفازي « ناروغۍ چې (دغه ناروغي په طبي اصطلاح کې دوه ډوله ده: حسي آفازي (Sensory aphasia) او بله يې د روان آفازي ( Fluent aphasia) په نوم يادېږي: دغه ناروغي په هغه چا اطلاقېږي چې په ټنډه او تندي کې کمی او زيان ولري، دا وړ ناروغي داسې ستونزې رامنځته کوي چې اخته کس خبرې نه شي کولی. دا داسې بيماري ده چې موږ يې د رغولو وړتيا نه لرو (بوتون: ۱۱). د «ابرس» په نامه د پاپروس يوه بله پاڼه هم ترلاسه شوې ده چې په هغې کې د انسان د رفتار او چلندونو د کنټرول مرکزيت »زړه «ګڼل شوی دی او هغه د ټولو عصبي ريښو مرکز بولي (پورتنی مأخذ).

د ډېرو مهمو د جسمي - رواني فعاليتونو د مرکزيت په اړه چې د لرغوني مصر د پوهانو تر منځ د نظر اختلاف تر سترګو کېږي، د يوناني پوهانو او فيلسوفانو تر منځ هم موجود دی. يوې ډلې، مغز د دې فعاليتونو مرکزيت بللی او بلې ډلې د جسمي - رواني فعاليتونو مرکز باله. د بېلګې په توګه: اپلاتون او سقراط د مغز د مرکزيت پلويان وو، خو ارسطو بيا زړه د ذهني فعاليتونو مرکزيت ګاڼه. بقراط د يونان د رنځپوه حکيم په توګه هم د ارسطو له نظر سره همغږی نه دی، هغه ويلي: »مهمه ده چې انسان پوه شي ... يوازې له مغز څخه ممکنه ده چې خوند، ښادي، غوسه، حرکتونه او دردونه سرچينه واخلي او په ځانګړې توګه د همدې غړي په توګه موږ فکر کولی شو، يو څه وينو، اورو يې او داسې نور... «د نوموړي په رساله کې راغلي دي: »مغز د علم او پوهې د ترلاسه کولو له پاره د ادراک او اسبابو پيغام راوړونکی دی «(پورتنی مأخذ).

د جسمي - رواني فعاليتونو د مرکزيت د ټاکلو په اړه چې د يونان او مصر د پوهانو تر منځ د نظر کوم اختلاف موجود و څو پېړۍ يې دوام درلود.

هېره دې نه وي چې په دې اړه مسلمانو پوهانو هم د ذهن د عملي جريانونو د کړنو د څرنګوالي په برخه کې ډېرو مهمو پرمختګونو ته لار موندله چې دلته يې څو بېلګې وړاندې کوو:

ايراني فيلسوف/ ملا صدرا په خپل کتاب (مبدأ او معاد) کې ليکي: ... »دماغ (مغز) د ذوق او لمس د درک کولو اختصاصي آلت نه دی؛ خو دا چې په دې کار کې هېڅ دخيل نه اوسي معلومه نه ده او څنګه ممکنه ده چې مغز دخيل نه وي، سربېره پر دې چې په مغز کې کوچنۍ ضايعه د ذوق او لمس او داسې نورو اختلالاتو لامل کېږي (کلاني، ۱۳٦۷: ۱۳ - ۱۴).

اسماعيل جورجاني هم چې عالم طبيب تېر شوی دی له ملا صدرا څخه د مخه يې په مغز کې د ځينو پديدو په اړه ليکل کړي او خپل نظر يې څرګند کړی دی: ...»د مغز په منځ کې درې جوفونه (تجويف) دي چې طبيبانو هغه د دماغو ګېډې (بطنونه) ياد کړي دي. هر بطن بيا په دوو لويو برخو وېشل شوی دی. او د دماغو جوهر د اوږدوالي له مخې د (نيمې کُرې) دوه برخې دی.لومړنی تجويف د روح حساس محل دی. وروستنی تجويف کوچنی دی او د حرکتونو مبدأ ګڼل کېږي. منځنی تجويف د تفکر محل دی (براهني، ۱۳٦۷:۳۰۳ - ۳۰۴).

که څه هم جرجاني په پنځمه هجري پېړۍ کې حسي، حرکتي او ارتباطي درې ګونو ساحو ته اشاره کړې ده همدارنګه د نوموړي ميتود پوهنه ښايي د مغز په اړه د څېړنو پر بنسټ د رامنځته شوي ضايعه مرکز په توګه ومنو. نوموړی د »ذخيره خوارزمشاهي «په کتاب کې ليکي: ...»او هر کله چې د دماغ د غړي يو جزء زيانمن شي، په هغه جزء کې خلل او نيمګړتيا رامنځته شي، پر همدې توګه پوهېږو چې د هغه غړي هر جزء د کومې ځواکمنتيا محل دی (براهني، ۱۳٦۷: ۳۰۳ - ۳۰۴). **د مقالې پاتې برخه په بله ګڼه کې**